

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: ناظر

د کتاب موضوع: ناول

لیکوال: محمدنواب ودان احمدزی

کمپوز: خپله لیکوال

چاپ چارې: د چاپ وسه یې راسره نه وه،
ځکه خو مې آنلاین خپور کړ

د لیکلو کال: ۱۳۹۵

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو څو خبرې

## بسم الله الرحمن الرحیم

لومړی ټولو لوستونکو ته خپل سلام داسې وړاندې کوم چې: اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

پس له سلام نه باید خپل خبرې را لنډې کړم، دا زما لومړی ناول ده او سره له دې چې ما خپله هڅه کړې ده، خو بیا هم ډاډمن یم چې په دې کې به ډېرې ستونزې وي، بله دا، دا ناول په دې کتاب که لانده پوره شوی یعني ما دا غوښتي چې دا ناول لالړ نور هم دوام ولري، نو که ورته وګورو له همدې امله یې هم ځینې خطاوې پیدا کړې، چې دا خطاوې هغه وخت لرې کېدای شي، چې د دې کتاب دوهم ټوک ولولئ، کنه تاسې به وایاست چې په دې کتاب کې له اصلي متن څخه غلطیانې ډېرې دي، نو ځکه یو غوښتنه له تاسو څخه لرم او هغه دا ده، چې مخکې تر دې چې زما د کتاب دوهم ټوک ولیکم، د دې کتاب په اړه قضاوت مه کوئ او که چېرې تاسې دا ګڼئ چې دا ناول همدومره بس ده، بیا اوس هم کولای شئ چې په اړه یې قضاوت وکړئ.

دوهمه خبره دا ده، چې کېدای شي تاسو د دې ناول په لوستلو داسې احساس ولرئ چې کېدای شي زه حزبی اوسم، یا له حزب سره ډېره مینه ولرم خو اصل کې خبره داسې ده، چې دا ناول لابشپړ شوی نده.

یوه مهمه خبره چې زه غواړه په اړه یې درته ووایم هغه دا ده، چې تاسې به وایې چې داسې څه زه د ناول لیکلو ته وهڅولم؟

په اصل کې یې دوه لاملونه ول:

اول: په دوولسم ټولګي کې په پښتو ادبیاتو کې زما نومرې د دې لپاره کمې شوې، ځکه چې ما ټول کتاب لوستی وؤ، خو هلته مې د ناول عنوان له سره نه وؤ، لوستلی، په څلورو پوښتنو کې درې د ناول په اړه وې، نو ځکه ما له ځانه سره دا وویل: چې اوس باید هم ناول زده کړم او هم یې ولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم: دا خبرې له ما څخه هېرې شوې وې، چې باید ناول ولیکم، تر هغو چې یو وخت په عالم راډیو کې د مرحوم استاد شپون د ناولونو خپرېدل پیل شول، تر هغه وخت پورې، ما استاد سعدالدین "شپون" نه پېژانده، د هغه ناولو راباندې اثر وکړ او زما هغه خبره هم رایاده شوه، چې باید ناول هم زده کړم او هم یې باید ولیکم، دوهمه خبره دا وه، چې ما د ښاغلي ابراهیم شبنم (خواښې اېنګور) ناول او د ښاغلي آرش ننګیال (ولسمشر ما وژلی) ناول هم ولوست، چې د دې دواړو نه یوازې دا چې لوی اثر یې راباندې کېښود، بلکې په پوره توګه یې د ناول لیکلو ته وهڅولم.

محمد نواب ودان احمدزی

۱۳۹۶/۰۷/۰۳ کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

داسې مهال وؤ، چې په هېڅ نه پوهېدو نه مو کرکه نه مو مینه پېژنده، نه مو جګړه او نه مو سوله پېژانده، نه مو د شپې پروا کوله او نه د ورځې، د خپلوان او پردیو له منځه یوازې دا توپیر وؤ، چې خپلوان به هرکله زموږ کورته راتلل او موږ به د هغوئ کورته ورتلو، خو پردي به کله نا کله راتلل بس، یوازې دوه شیان مو پېژاندل یو لوبې او بل زده کړه، اودس او لمونځ موږ ته عبادت نه بلکې زده کړه وه، نیمه ورځ به ښوؤنځي کې وؤ، او بیا به چې کله راغلو نو مور به ویل:

زویه! راځه ډوډۍ چمتو ده، ډوډۍ وخوره بیا به لوبې وکړې، ورې شوی به یې؟

کله به چې مو په زړه جوړه وه، وربه غلو او ډوډۍ به مو وخوړله او کله به مو کتابونه کېښودل او د لوبو لپاره به مو د کلي جومات خواته ورمنډه کړه، تر ډېره به مو لوبې کولې بیا به د جومات ملا صیب (مولوي صاحب) ټولو ته غږ کړ:

وه هلکانو! راځئ، زه آذان کوم تاسې اودس وکړئ، چې ترڅو کلیوال راځي لمانځه ته چمتو شئ.

چا به ویل:

سمه ده ملا صیب!

چا به ویل:

زه په کور کې اودس کوم او بیا د لمانځه لپاره جومات ته راځم.

چا به ویل:

زه اودس او لمونځ دواړه په کور کې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاصیب موږ ته ټول اودس په کتابي ډول ښودلئ وؤ، خو په عملي ډول مو استنجاء نه وه زده، هسې خو په مجبوره ورځ کې بې له استنجاء هم لمونځ کېږي، خو زه بیا اوس هم په دې ډاېرېږم چې به مې لمونځ قبول شوی وي او که نه؟

نو موږ هغه کسانو چې د جومات تر څنګ ویالې کې مو اودس کاوه، هسې یوازې خوله پوزه، او مخ لاسونه او سر پښې وینځلې، بیا به جومات ته ننوتو او لمونځ به مو په جمع کاوه، چې کله به مو لمونځ خلاص کړ، بیا به د ملاصیب (صاحب) تر څنګ کېناستو، او وبه مو ویل:

ملاصیب موږ ته کیسه وکړه!

ملاصیب به کله د آدم (ع) کیسه کوله، کله د نوح (علیه السلام) کله د اصحابو کیسې او همداسې نورې کیسې به یې راته کولې، کله به مو قرآن کریم لوست او ملاصیب به یې راته ترجمه (ژباړه) کوله، بیا به دباندې راووتو، او تر مازدیګره پورې به مو لوبې کولې، مازدیګر چې به مو پلرونه راغلل نو، هر یو به له خپل پلار سره جومات ته ولاړو لمونځ به یې وکړ او بیا به په ګډه (یوځای) کورته تلو، هلته به مو تر ماښام درس ویلو، ماښام به چې کله پلار جمعې ته تلو، نو مابه خپل درسونه خلاص کړي ول، بیا به مور او ما دواړو یو ځای لمونځ کاوه، او له هغې وروسته به مور راته کیسه کوله، کیسه به لانه وه ختمه چې زه به ویده شوی وم، که به مې په درسونو (لوستونو) کې څه ستونزه لرله، بیا به ملا صیب او یا هم معلم اکبر ته ورغلم، هغوئ به راسره مرسته کوله، چې کله به ښوؤنځي ته ولاړو نو سرمعلم خیرمحمد به ټول زده کوؤنکي په کتار(قطار) ودرول، سرمعلم صیب به یو څو نصیحتونه راته وکړل، او بیا به ټول خپلو ټولګیو ته ولاړو، هسې زموږ په ښوؤنځي کې درې ټولګي ول:

لومړی ټولګی چې زما کوچنی ورور پکې وؤ، د چنار لاندې یې ورته لیمڅی اوار (هموار) کړی وؤ.

دوهم ټولګی چې هغه ته یې هم د زوړ چنار لاندې پوزی اوار کړی وؤ.

او درېم ټولګی چې د هغه ټولګي تر ټولو کوچنی زده کوؤنکی زه وم، زموږ ټولګی د توت تر زړې ونې لاندې وؤ، زموږ لپاره یې څو دانې غټې تیږې نیمې په ځمکه کې خښې کړې وې، موږ به په هغو کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي ټولګي کې د دې لپاره چې ډېر کوچنی وم، نو تر ټولو اخر شمېره یعنې پنځلسم وم، په دوهم ټولګي کې مې ډېر درس ووایه پنځم شوم، او چې کله په درېم ټولګي کې شوم، هتله لومړی شوم، نو ځکه کله چې به ښوونکی راغی، نو ما به وویل:

ولاړ سئ!

ټول هلکان به ودرېدل، بیا به ښوونکي وویل: کېنئ(کښېنئ)!

ښوونکي به وویل:

زده کوونکو سترې مشئ!

زدکوونکو به وویل:

خیر یوسې ژوندی اوسې ښوونکیه!

ښوونکي به وپوښتل:

پرون مو څه ویلي ول؟

ما به ځواب ورکړ،

مثلاً: د جمعې(+) تعریف.

بیا به ښوونکي څو کسان پورته کړل، او پوښتنې به یې ترېنه وکړې، له هغې وروسته به یې لوست پیل کړ، ډېر په کراره به یې درس ورکاوه، زموږ ټولو هلکانو له ښوونځي سره مینه وه، له همدې امله له ډېر لرې ځای څخه ښوونځي ته راتلو، هلته به مو درس ویلو، ډېرو زده کوونکو د زړه له تله زیار وېسته.

په کلي کې هم خوشحاله خوشحالي وه، هر چا به خپل کار کاوه، چا به د چا په کار کې کار نه لاره، جنګ جګړې تر دې مهاله هېڅ نه وې، د پسرلي پر مهال به زموږ کلی داسې وؤ لکه د عطرونو هټۍ (دوکان) چې یوې خواته به یې لاړې یو ډول ښایسته بوی به یې کاوه او چې بلې خواته به یې لاړې بل ډول ښایسته بوی به یې کاوه، دنیا نه وه سم جنت وؤ، د اوړي په مهال خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هسې هم دنيا کې توپير راغلی وؤ، له نيمې دنيا نه به دوزخ جوړشو او نيمې څخه جنت، زموږ کلی هم د جنت په منځ کې پروت وؤ، له اصلي جنت سره يې دا توپير وؤ، چې هلته حورې او هر ډول مېوې پکې وي، د شيدو(شودو) او شرابو ويالې پکې وي، خو زموږ په کلي کې چې کومې حورې وې هغه به موږ ليدلای هم نشوې، ځکه دا خبره ډېره بده او د شرم څخه ډکه وه، او دا به هم څرګنده نه وه، چې کومه حوره به دچا وي، د چا په نصيب به شي، بله خبره دا وه، چې ځينې مېوې پکې نه وې او بله خبره هم دا وه چې زموږ په کلي کې شيدې ولې خو په ويالو کې نه بلکې په پيالو کې، شراب خو هسې هم په مسلمانانو باندې په دې دنيا کې حرام دي، زموږ لپاره اوړی (دوبی) د لوبو تر ټولو ښه څپرکی (فصل/موسم) وؤ، او د پلرونو لپاره مو د مېوې د راټولولو ښه څپرکی. موږ ته به ځکه خدای راکړې وه، ځکه لمر ته به ګرځېدو راګرځېدو چې ښه ګرمي به مو وشوه، بيا به لاړو او په اوبو کې به مو ځانونه واچول او لامبو به مو وهله، کله به د دې لپاره ډېر ناروغان هم شولو چې په ګرمي کې به ګرځېدلي ولو، بغير له لامبو نه يوه بله لوبه چې هره ورځ به مو کوله، هغه د افيز (حفيظ) مړی وه، د افيز مړی داسې لوبه وه چې: يوکس به ښه ډېره شوتله (شفتله) سره را ټوله کړه، له هغې څخه به يې يوه لويه مړی جوړه کړه، بيا به يې غږ کړ، ما د افيز مړی کړې ده، هلکانو به په هغه پسې منډې وهلې، ترڅو چې هغه به يې ګېر کړ، چې کله به ګېر شو، نو د هغه ستونی به يې کلک ونيوه، بيا به يې ورته وويل:

افيزه (حفيظه) بچو مړی خطا کړه!

ډېرو به خطا کوله، خو داسې کوم کس به هم پيدا شو چې خطا يې نه کړي، دغه کس به ترڅو نه خوشې کېده، ترڅو چې به يې مړی تېره کړې نه وه او يا به يې ښکته غورځولې نه وه، د مړی تېرول به اصلاً نا ممکن وؤ، خو کله کله به داسې وشول، چې کوم کس به تېره کړه، يو ځل خو ما هم تېره کړه، تر هغې وروسته به مې کله هم د افيز مړی نه کوله، په دې لوبه کې چې به چا مړی تېره کړه، تر يوې اونۍ به اتل وؤ او ټولو هلکانو به يې خبرې منلې او د هغه صفتونه به يې کول او که چېرې کوم کس مړی ښکته غورځولې وای نو هغه تر اتل کېدو شرمنده وؤ.

خوسی به مو هم کاوه، خوسی زموږ په سيمه کې داسې لوبه وه: څو کسان به يوه ډله شول او څو کسان به بله ډله، دواړو ډلو به يوه يوه پښه نيولې وه، او يو بل به يې ډيکه (ټېله) کول، کله به بايلل د ټولې ډلې د پښو په خوشې کېدو کې وؤ، او کله هم د ټولې ډلې په لوېدو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جنت هغه وخت په ختمېده شو، چې په کومه ورځ زما لاس په خوسي کې ترک وکړ او زړه مې خبر شو چې بیا د کلي مشر حاجي قلم اکا ته ولاړو او ورته ومې ویل:

حاجي صیب (صاحب) په خوسي کې مې له لاس څخه ترک غړ پورته شو، اوس ډېر خوړېږي.

حاجي صیب راغی او زما لاس یې کش کړ، بیا یې بېرته ډیکه کړ، حاجي صیب غوښتل چې څه ووایي، خو په همدې وخت کې یو کس راغی او ویې ویل:

حاجي صیب وحاجي صیب ژر راشه! ځکه چې د کلي په کوزه (ښکته) خوا کې ځینې خلک مېشت شوي دي، هغوئ وایي چې کوچان یو، خو زه فکر نه کوم چې کوچان دې وي.

په دغه خبره له حاجي صیب څخه زه هېر شوم، هغې خواته روان شو، موږ هم ورسره لاړو چې ومو کتل خلکو کېږدۍ (خېمې) لګولې وې، په ښکاره توګه کوچان ول او حاجي صیب ته یې هم وویل چې موږ کوچان یو، دوه درې میاشتې دلته تېروو، بیا له خیره سره ځو.

حاجي صیب ورته وویل:

ښه راغلئ، په خیر اوسئ که څه ستونزه وه، موږ درسره مرسته کوو.

هغوی مننه وکړه او موږ هم بېرته کلي ته را روان شولو.

چې کلي ته راورسېدو نو حاجي صیب راته وویل:

اوس خو ستا لاس جوړ شو، خو کېدای شي چې اثر به یې په ټول ژوند درسره وي، کله نا کله به دې یادوي او په تا باندې به بوج راولي.

هغه شپه خوب نه راته، خو ډېر په سختۍ سره ویده شوم، مور به مې کله څه او کله څه وېشول، خو له هېڅ شي سره زما د لاس خوږ نه کرا ېرده، سبا سهار چې کله لمانځه لپاره پاڅېدم نو ګورم چې مور مې راته اوبه تودې کړې وې، راته یې وویل:

بچیه نن په تودو (ګرمو) اوبو اودس وکړه.

ما ورته وویل: خو مورې! اوس خو اوړی ( دوبی) ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې وویل:

جار دې شم زویه! پوهېږم چې اوس اوړی ده، خو ستا لاس ژوبل شوی دی، یعنې وتی وؤ، نو که څو ورځې یې په تودو اوبو ونه وینځې نو بیا به درته وخوږېږي (درد به درته وکړي).

تر هغې خبرې له ما څخه هم هېر شوي ول، چې زما لاس ژوبل شوی وؤ، خو چې کله مې لوټکه (کوزه) پورته کړه، پوه شوم چې لاس مې په رېښتیا ژوبل شوی وؤ.

خو خیر اودس مې وکړ، بیا د لمانځه لپاره جومات ته ولاړم، چې لمونځ خلاص شو نو ټولو کلیوالو ته په خطاب کې ملا صیب (مولوي صاحب) وویل:

یوه شېبه صبر وکړئ! ځکه چې حاجي صیب (حاجي صاحب قلم د کلي ملک) درته یو څو خبرې لري.

حاجي صیب خبرې داسې پیل کړې:

ورونو! زموږ په کلي کې کراره کراري وه، غلا، ناروا، ظلم، ستم، زنا، قتل، تېری نه وؤ. خو بېګاه د کامران خان غوا ورکه شوې ده، د شپې خو خلاصه هم نه وه پاتې شوې، او که خلاصه هم وای نو د تیارې له وېرې نه تښتېده، ښکاره خبره ده چې چا به پټه کړې وي.

نو ځکه خو په هغې ورځ زموږ ټول کلیوال په هغې غوا پسې ګرځېدل، تر مازدیګره یې درک ونه لږېده، مازدیګر یو کس راغی ویې ویل: غوا خو پیدا نشوه، خو د همغې غوا سر د کوچانو (کوچیانو) له کېږدیو (خېمو) سره پروت وؤ او همدا رنګه د هغې غوا څرمن (پوستکې) او پښې یې.

ډېر کلیوال هغې خواته روان شول، چې کله هلته ورسېدلو، نو چې ګورو څه نه وؤ، خو حاجي صیب له کوچانو سره وغږېده، هغوی ورته وویل:

موږ نه له غوا څخه خبر یو، نه یې له سر نه او نه یې له څرمن او پښو څخه، کېدای شي ستاسو هغه کلیوال به دروغ ویلي وي، یا به غلط شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام د آذان وخت وؤ، چې کليوال ټول له هغه ځايه را روان شول، په لاره کې به هغه کس ته ټولو ويل:

دروغجنه موږ ټول دې د دنيا هغه سر پورې سرګردانه کړو، او هلته هېڅ نه وؤ، خداى دې تا ووهي او خدا دې تا په خېټه روان کړي!

جانو د کليوالو په دې خبرو ډېر خپه (خفه) وؤ، او له ځانه سره يې ويل:

نېکي مه کوه بدي به له تا څه غواړي؟

جان محمد يو ډېر لوړ سړئ وؤ، په مقام او قد دواړو کې، خو کله يې چې د يوکليوال خوسى پټ کړ له جان محمد نه جانو ته واوښت، خبره داسې وه چې:

د جان محمد او هغه بل کليوال دواړو غواوې (غواګانې) يوځاى لنګې شوې، د جان محمد غوا خوسۍ وزېږوله او د هغه بل کليوال غوا خوسى، خو د جان محمد خوسى پکار وؤ، نو ځکه خو يې خپله خوسۍ د هغه له غوا سره پرېښوده او د هغه خوسى يې له ځانه سره بوته او خپلې غوا سره يې خوشې کړ، بيا په دې کار کې کوم کليوال ليدلى وؤ، او د همدې لپاره يې نوم بد شو، او اوس ټول خلک ورته جانو وايي، جانو يو ډېر ځواکمن او غيرتي سړى وؤ، خو لږ ساده ګى وؤ، زموږ ټولو به ښه ساعت ورسره تېر وؤ، موږ ته به يې ټوکې کولې او کله کله به يې ډېرې ساده ساده خبرې هم کولې.

راځو اصلي کېسې ته: خبره داسې شوه، چې د غوا له ورکېدو وروسته د غوا خبره آس ته واوښته، يعنې تر هغې شپې وروسته په دوهمه شپه باندې آس ورک شو.

د هغې شپې په سبا هم خلک ډېر وګرځېدل خو د آس څه اثر يې تر مازديګره پيدا نه کړ، خو صبور اکا ويل چې:

د کوچانو له کيږديو سره يې د آس زين او ځينې نور سامان ليدلي وؤ.

چې کله کليوال ورغلل بيا هماغه خبره شوه، توپير يې دا وؤ، چې صبور اکا ته چا سپکې سپورې نشوې ويلاى سبا بيا د نادر اکا غوا ورکه شوه، خو د دې غوا هېڅ اثر چا ونه ليده، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بله شپه د نادر اکا ټول جوار ربېل شوي ول، خو څه اثر یې نه ښکارېده، ټول خلک راساً د کوچانو خواته ورغلل، د جوارو څه ټانټې هلته پرتې وې، د همدې لپاره خلک کوچانو ته په غوصه شول، حاجي صیب د غواګانو، آس او جوارو بیه په زیان کې ترې وغوښته، خو کوچانو په لومړیو کې سر زوري کوله، وروسته چې پوه شول چې سرزوري یې کارنکوي، بیا یې ومنله چې اوۀښتی زیان به جبرانوي، خو کلیوالو دا نه منله چې هغوئ دې نور په دې سیمه کې پاتې شي، په زیان کې مو له هغوئ څخه دېرش مېږې واخیستې، او هغوئ ته یې وویل:

چې تر سبا سهار پورې دا سیمه پرېږدئ، کنه بیا به درته ښه نه وي.

خو کلیوالو دا وېره لرله چې نن شپه هم زیان او هم نور ګټه له مونږ څخه وانه خلي، یعنې داسې نشي چې نن شپه له څو کلیوالو څخه په یوه شپه کې غلا وکړي او بیا سبا وتښتي، نوځکه خو ټولو کلیوال د پیرې لپاره ووتل، په هغې شپه ټولو کلیوالو پیره کوله، سبا چې مو کله د سهار لمونځ وکړ، او سهار چای مو وڅښه، نو د کوچانو خواته روان شولو، هلته چې ولاړو کوچان نه ول، تللي ول هغه هم ډېر لرې.

××××××

خو په دغې شپې زمونږ یو کلیوال د ټوپک د اور لاندې راغی او ووژل شو، ټول کلیوال هلته ورټول شول، په نوره کیسه نه پوهېږم ځکه زه کوچنی وم او چا نه وروپرېښودم، چې هلته ورشم، سبا ته یې د جانداد اکا جنازه وکړه او وروسته له جنازې څخه حاجي صیب عبدالله ګل اکا، شکور اکا او کریم ګل زمونږ کور ته راغلل، حاجي صیب وویل: چې:

دا شونې نه ده چې دا کار به کوچانو کړی وي، زه داسې فکر کوم چې دا کار د کلیوالو د کوم کس دی، نو ځکه مونږ په پټه پیره کوؤ، چې ګېر یې ګړو.

په لومړی شپه هیڅوک هم هلته رانغی، دوهمه شپه هم څوک رانه غی، خلک هم ستړي شول او د راتلونکو شپو لپاره یې څو نورې ډلې وګومارلې، چې په دې ډلو کې به هر یوې ډلې ته په درېوۀ ورځو کې یو ځل د پیرې وار راته، په درېمه شپه څو کسان راغلل چې ټوپکې ورسره وې، پیره دارانو د ودرېدو ورته وویل، هغوی ودرېدل، یو کلیوال لاټېین (الکین)یې ورنږدې کړ، چې د لاټېین رڼا پرې ولوېده، خلک حیران شول، ځکه هغه غله نه ول بلکې عسکر(سرتېري) ول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو عسکر هم نه خوښېدل، ځکه د عسکرو توپیر له غلو سره دا وؤ، چې غلو به د شپې له خوا کوم کلیوال بوته، خو عسکرو به د ورځې له خوا، عسکرو به زموږ مالونه نه لوټل خو غلو به لوټل، بل توپیر یې دا وه، چې عسکرو به چې کوم کس له ځانه سره بوته، د هغه سړي به مړی او ژوندی ورک شو، خو غلو به بیا مړی ورته پرېښوده، تر څو کورنۍ یې ترېنه بېغمه شي، له دې خبرې تېرېږو، خبره داسې شوه، چې د غه شپه هم په خیر سره تېره شوه، سبا شپه بیا پیره شروع شوله، په دغه شپه زما پلار هم پیرې ته ولاړ، تر څو که خدای کول هغه غله او قاتلین پیدا کړي، کلیوال ټول په تمه ول، ترڅو هغوئ ته یې چې کومه لومه ایښې ده، هغوئ هغې ته دننه شي او دوئ یې هم راګېر کړي، له نېکه مرغه چې هغوئ راغلل، د کلي د جومات له څنګه تېرشول او د جانداد اکا کور خواته راغلل چې زموږ له کور څخه غوا غلا کړي، پیرداران ترېنه راتاو شول او خلک یې ټول ونیول هغوئ یې زموږ غوجل کې وتړل، ترڅو سبا چې ټول کلیوال راشي بیا به د دوئ په اړه له غور او سوچ وروسته فیصله (پرېکړه) وکړي، چې څه ورسره وکړو.

سبا سهار تر لمانځه او د سهار چای تر څښنول ورسته ځینې کلیوال او مشران زموږ د حجرې خواته را روان شول، او زموږ حجرې ته ننوتل، زه لاړم چای مې ډېر په سختي سره راوړ، چې چای مې اچاوه خلکو خبرې داسې پیل کړې:

د جانداد اکا زوی نسیم:

زه خو وایم: دوئ ټول به ووژنو او ځان به ترېنه خلاص کړو، هسې هم دوئ زما پلار او زموږ نور کلیوال ووژل، نو ځکه خو کېدای شي چې موږ د خپلو عزیزانو بدل ترېنه واخلو او له دوئ څخه هم ځان خلاص کړو.

شکور اکا وویل:

زه وایم چې: د دوئ مخونه به ورتور کړو په خرو به یې سپاره کړو او په ټوله ولسوالۍ به یې وګرځوؤ.

عبدالله ګل اکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه داسې سوچ کوم چې باید دوئ ټول ووژنو او سپیانو ته یې واچوؤ، تر څو نور ترېنه عبرت واخلي.

حاجي صاحب وویل:

داسې به وکړو چې د ټولو لاسونه به ترې پرې کړو چې دا کار هم له اسلام سره سم دی، او هم ښه کار دی نور خلکو ته هم ښه عبرت دی، ځکه که مړه یې کړو یو څو ورځې به د خلکو په زړه وي بیا به یې هېر کړي، خو که لاسونه یې پرې کړو، تر څو چې خلک یې وینې عبرت ترېنه اخلي.

مولوي صیب هم د حاجي صیب خبره ورتائید کړه.

خو شفیق چې هغه مهال په استخباراتو کې یې نده درلوده، وویل چې:

دوئ به حکومت ته وسپارو ترڅو هغوئ یې محاکمه کړي او که چېرې یې حکومت ته ونه سپارو نو هغوئ به له خبرېدو سره سم موږ مجرم وګڼي او عسکر به راولېږي، ترڅو موږ ونیسي او له نیولو وروسته به د دوئ په ځای موږ محاکمه کړي.

کریم ګل چې زموږ د کلي دوکاندار(هټیوال) وؤ، ډېره ساده سړی وؤ، چې کله یې دا خبره واورېده، کوم چای چې یې په خوله کې وؤ، هغه یې د کوټې منځ ته وشینده، او ویې ویل:

ته رېښتیا وایې؟ رېښتیا به داسې کېږي؟

ټولو کلیوالو ورپورې وخندل بیا ترڅو شېبو وروسته شفیق ورته وویل:

هو! بالکل به همداسې کېږي.

خو خیر همدا خبره د کلیوالو له خوا ومنل شوه او د نوې اونۍ لومړۍ ورځ یې حکومت ته د دوئ د سپارلو لپاره وټاکله.

د شپې له خوا عسکر راغلل ټول کلی یې محاصره کړ، ځینې کورونه یې هم تلاشي کړل، خو له نېکه مرغه زموږ غوجلې ته چې په هغې کې هغه غله ول او مختنه یې سپې تړلی وؤ، هغې غوجلې ته دننه نه شول، تر سبا پورې په کلي کې ول، سبا سهار څو کسان چې دوربینونه او کاغذونه یې په لاسونو کې ول، دې ځای ته راغلل او دلته یې ډېر ځایونه وکتل، بیا مازدیګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته ولاړل، په سبا يې د جُمعې ورځ وه، چې کله ټول کليوال د جُمعې لمانځه ته راټول شول، ملاصيب تر لمانځه وروسته کليوالو ته وويل:

تاسو څو شېبې صبر وکړئ موږ تاسو ټولو ته هغه غله دربښيو د غلو تر کتو وروسته به بيا ټول کورونو ته ولاړ شئ.

ټولو کليوالو غله وليدل، خو يوه تن وويل: چې د غلو له ډلې څخه دا يو تن د کوز کلي د خان سمندر خان کس دی.

خبره د شنبې ورځ ته پاتې وله، چې د شنبې ورځ شوه، کليوالو غله په موټر کې واچول او د ولسوالۍ خواته روان شول، هغوئ يې د ولسوالۍ استخباراتو ته وسپارل، هغوئ ورته وويل:

موږ به له دوئ څخه څېړنه وکړو، بيا به تاسو ته خبر درکړو، چې کله يې محکمه ده، تاسې بايد محکمې ته راشئ او هلته خپله شاهدي (ګواهي) ورکړئ!

ټول کليوال، چې کوم ولسوالۍ ته تللي ول، هغوئ بېرته کلي ته راغلل او په کلي کې خوشحاله خوشحالي شوه، کليوالو رانګارنګ (بېلابېلې) لوبې شروع کړې.

کريم ګل به ويل:

زما د سپېلنو زور خو وينئ چې ټول غله مې درته سم کړل، ما به چې لوګي کول تاسو به ويل چې: ياره ته هم عجيبه سړی يې، د سپېلنو يې له غلو سره څه؟

حاجي صيب به ويل:

دوئ بد بوټي دي، او بد بوټي بلا نه وهي.

ملاصيب به ويل:

داسې دعا کوئ چې الله تعالیٰ (جله جلاله) مو دې له دې بلاوؤ څخه د تل لپاره نور خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کلیوال د دې خبرو په کیسه کې نه ول، ما او زما یوه ملګرې چې شمس الرحمن نومېده، موږ به په ساده اصطلاح شمسو ورته ویل، په دغه ورځ مو د وران احمدزي دا شعر د سندرې په ډول په زوره تکراراوه:

د ګناه پاینبت همدا وي          ټول علم ته به رسوا وي

کله چور او چپاول وي          کله قتل، کله غلا وي

د ولس پروا چې نه کړي          بیا زندان به یې سزا وي

هسې هم سبا د کریم ګل کوژده وه او کریم ګل د کلي ډم ته ویلي ول، چې نن به د کلي په میدان کې تر سبا پورې مېله وي او ډول به غږوي، همداسې وشول تر سبا پورې ځینو خلکو اتڼونه، کول چا به ننداره کوله، حاجي صیب، ملا صیب، د جانداد اکا زوی او عبدالله ګل اکا او ځینې نور مشران له میدان څخه روان شول. پلار مې هم ماته غږ وکړ او راته یې وویل:

زویه! چابک(چټک) به ولاړ شې کورته، مورته به دې ووایې چې شین چای کېږدي.

مور مې هم شین چای وکه او ما چای له ځانه سره واخیست او حجرې ته مې یوړ، خلکو بحث پیل کړی وؤ، د کلي په شته حالاتو یې سره خبرې وکړې، تر څو په راتلونکې کې څرنګه کولای شي، چې له داسې پېښو څخه مخنیوی وکړي.

د جانداد اکا زوي نسیم وویل:

راځئ داسې به وکړو، چې که خدای وکړي، یو څو تکړه ځوانان به وټاکو ترڅو د کلي امنیت سمبال کړي.

کریم ګل وویل:

داسې یو کار ځکه نشي کېدای چې زموږ کلی له څو خواوؤ څخه لارې لري، نو د دې لپاره باید څو ډلې جوړې شي، په هره ډله کې باید ډېر کسان شتون ولري، که چېرې داسې وکړو، دا پیره به تر یوې میاشتې ډېر دوام ونکړي، ځکه ځوانان به ستړي او زړونه به یې ساړه شي او نور به له دې کار څخه تېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه کلیوال کریم ګل ته وویل:

یاره ته هم هوښیار شوی یې، ودې نه ویل چې دا خبره دې څنګه په مغزو کې راوګرځېده؟

کریم ګل وویل:

اصل کې خبره داسې ده چې یو وخت زما مور راته دا کیسه کړې او ویل یې:

یو وخت په یوه ځای کې څو کسانو په ځنګله کې کار کاوه، دوی به د شپې له خوا په نوبت سره پیره کوله یوه شپه د دوی څخه د دوؤ مېنځ کې شخړه پیدا شوه، دریم هم د دوی د یوه تن ملاتړ وکړ، د شپې هغه یو یوازې تن له ځانه سر وویل:

دوئ خو پیره کوي نو زه ولې پیره وکړم.

دی کراره ویده شو، هغو نورو په نوبت سره د شپې پیره وکړه، خو یو وخت دواړه ویده شول، سهار چې را پاڅېدل، نو ګوري چې څه خبره نشته سبا شپه هغو دواړو پخپل منځ کې هم شخړه وکړه او درې واړه بېل بېل څملاستل، هر یوه به ویل چې هغه بل دې پیره وکړي، په همدې کې یوه له ځان سره په لوړ آواز وویل:

زه خو لړ لرې ځای ته ځم، هلته تر سهار پیره کوم، ولې د بل چا لپاره پیره وکړم.

یوه بل هم همداسې وویل، بیا ولاړل، دا یو کس یوازې پاتې شو، هغه دوه تنه چې لرې تللي ول، دواړو پیره کوله، یو وخت چې خوب پرې زورور شو، نو له ځانه سره یې وویل:

پرون شپه څه وشول چې نن شپه به وشي.

کراره ویده شول، خو هغه درېم یې په اور کې خپله چاړه ومنډله او خپل لاس یې وسوځاوه، ترسهاره ویښ پاتې شو، سهار یې زړه وشو چې له ملګرو سره روغه وکړي، ځکه ټوله شپه یې په ویښه تېره کړې وه، خو چې څومره چغې یې ووهلې ملګرو یې ځواب ورنکړ، په ځنګله کې ډېر وګرځېده بلآخره یې دواړه ملګري په داسې حال کې پیدا کړل، چې نیم بدنونه یې لیوانو خوړلي ول.

کلیوالو بیا وخندل، یوه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو تا پدې خبرو باور وکړ؟

له دې خبرې سره د کليوالو خندا نورهم زور واخيست، چې په دې وخت کې حاجي صيب وټوخل، بيا ملاصيب په خبرو پيل وکړ، خپلې خبرې يې داسې پيل کړې:

خندق جګړه کې چې کله يهودانو او قريشو سره تړون وکړ، نو پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) دې جګړې ته د تياري لپاره مسلمانان راټول کړل، چې مشوره پرې وکړي، سلمان فارسي (رضي الله تعالیٰ عنه) وويل:

په فارس کې به چې کله خلک پوه شول د دښمن لښکر د ېر دی، دوئ به يوه کنده وېسته چې هغې ته خندق ويل کېږي او چې کله به دښمن دلته را ورسېده، نو هيران به شو، تر کندې راتېردی نشو.

نو ځکه خو پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) همدا د سلمان فارسي خبره تائيد کړه او هلته يې خندق جوړ کړ، اوس زه هم وايم چې بايد خندق جوړ کړو.

حاجي صيب وويل:

د ملاصيب خبره سمه ده، موږ بايد داسې وکړو چې تر کلي خندق راوګرځو او بيا هغه کومه خاوره چې له خندق څخه راوتلې ده له هغې څخه به ديوال جوړ کړو، چې په دې توګه به هم ديوال شي او هم خندق.

ټولو کليوالو وويل: سمه ده! حاجي صيب ته خو زموږ مشر يې، چې ته څه وايې هغه به کوؤ، تر واده وروسته به د دې کار لپاره چمتوالی ونيسو او ان شاء الله چې، سبا نه بله ورځ به کار پيل کړو.

×××××

په کومه ورځ چې کليوالو غوښتل چې کار پيل کړي، په هغې ورځ عسکر کلي ته راغلل، حاجي صيب، ملاصيب، کريم ګل، نسيم، زما پلار، د کريم ګل پلار عبدالله ګل اکا او ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مشران یې ونیول او له ځانه سره یې بوتلل، سبا چې کله شفیق الرحمن راغی، کلیوالو ورته وویل:

چې تا خو ویلي ول، که چېرې موږ غله حکومت ته وسپارو، نو هېڅ خبره نشته، اوس خو یې ټول کلی هم له ځانه سره بوته!

د شفیق الرحمن په تندي کې ګونځې پیدا شوې، په لوړ آواز یې وویل:

چپ کمعقله! وایه چې چا بوتلل او چېرته یې بوتلل؟

شمس الرحمن یا په ساده اصطلاح شمسو د شفیق الرحمن ورور وؤ، ویې ویل:

لللل لاللل لا! لالا! هغه کلیوال عسکرو له ځانه سره بوتلل.

شفیق الرحمن په بېړه، د ولسوالۍ خواته روان شو، سبا غرمه شفیق الرحمن راغی او ځینې پاتې کلیوال یې را ټول کړل ورته ویې ویل:

څه خبره نشته! هسې سمندرخان شکایت کړی او ویلي یې دي، چې تاسو د هغه کسان ډبولي دي، هغوئ مو له کوزې کلا ځخه نیولي او برکلي ته مو بولي دي، بیا مو څو ورځې هلته بندي کړي دي، د همدې لپاره د ولسوالۍ سرتېرو زموږ ځینې مشران نیولي دي، ما خپله هڅه وکړه، څو ورځې وروسته خوشې کېږي.

شمسو وویل:

تا خو دا هم ویلي ول چې هېڅه به نه کېږي، خو عسکرو کلیوال...

شفیق الرحمن په خبره کې ورولوېد:

چپ شه! رزیله! تاته چا د خبرو وار درکړی ده، چې ومې ویل خوشې کېږي، بیا خوشې کېږي!

شفیق الرحمن به د ورځې او شپې په ولسوالۍ کې وؤ، بلاخره څو ورځې وروسته د دوشنبې په ورځ کلیوال راخوشې شول، په کلي کې یوځل بیا خوشحالي شروع شوه، تر ډېرو ورځو په کلي کې خوشحالي وه، موږ داسې فکر کاوه، چې نور هغه تېرې خبرې ورکې شوې دي، نور نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غله شته او نه عسکر يوازې او يوازې د کلي خوشحاله خلک به وي او خندا ګانې خو داسې ونشول.

څو ورځې وروسته دوه تنه عسکر راغلل، حاجي صيب سره يې خبرې وکړې، يو کاغذ يې ورکړ، بيا يې حاجي صيب ته لاس ورکړ، غږ يې نه راته چې څه سره وايي، خو د لاس ورکولو ورسته عسکر لاړل او حاجي صيب هم د ماسختن لمانځه وروسته کليوالو ته ويلي ول:

چې بايد ټول زموږ حجرې ته راشي، زه په دې خبره خبر نه وم، چې پلار مې د انګړ (حويلي) د دروازې (وره) په خوله کې غږ کړل:

زويه شين چای او ګوړه راوړه، ژر کوه چې مېلمانه راغلي دي!

ما خپل ورور ته وويل:

لالا ورشه چای ور وړه، پلار مې چای غوښتی ده.

هغه وويل:

ځه ورکه شه! خپله يې ورووړه، څه کوچنی خو نه يې د نهو کلو هلک يې!

ما هم چاينکه او د کوړې ډکه ټکرۍ له ځانه سره واخيسته، او لاړم چاينکه مې هلته کېښوده او په منډه په پيالو پسې راغلم، پيالې مې له ځان سره واخيستې، ورغلم ټولو ته مې چای واچاوه، په دې وخت کې حاجي صيب هم راغی، حاجي صيب ته مې هم چای واچاوه او د پلار ترڅنګ کېناستم، پلار مې ځان ته نږدې کړم او ويې ويل:

زما ګران زوی ډېر هوښيار ده، د مشرانو په مجلس کې خبرې نه کوي، همداسې ده، کنه زويه؟

ماهم وويل:

سمه ده پلار جانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوالو حاجي صيب ته ستر ګې نيولې وې تر څو حاجي صيب خبرې پيل کړي، حاجي صيب يوه وړه ټوټه ګوړه خولې ته واچوله، له شنو چايو څخه يې غوړپ وکړ، بيا يې خبره داسې شروع (پيل) کړه:

تېره ورځ دوه تنه عسکر راغلي ول، هغوئ ويل چې:

دلته زموږ انجينرانو سروې کړې ده، هغوئ ويلي دي چې په دې ځي کې هوايي ډګر په ښه توګه جوړېدای شي، خو يوازېنی ستونزه ستاسو کورونه او کروندې دي، د افغانستان حکومت تاسې ته ستاسې د ځمکو بيې درکوي او ستاسو د کورونو په ځای تاسو ته کورنه درکوي، دغه د حکومت له خوا راستول شوی استعلام ده.

حاجي صاحب څو شېبې غلی وؤ، بيات يې پسې زياته کړه:

ويې ګورئ! نن شپه مشوره کوؤ او سبا ته خو موږ بايد هغوئ ته ژر ځواب ووايو، ځکه چې بيا هغوئ موږ ته هغه څه چې مو ترې غوښتي وي بايد راکړي، مخکې تر دې چې هغوئ بېرته راشي بايد موږ د استعلام ځواب ليکلی وي، ځکه هغوئ موږ ته لس ورځې وخت راکړی ده.

زما پلار وويل:

حاجي صيب زما په فکر بايد داسې وکړو، چې څو ورځې ښه چورت ورته ووهو، له هغې وروسته به پرېکړه وکړو.

ټولو کليوال هم د هو په اشارې سره سر وخوځاوه، بيا ملا صيب او حاجي صيب هم وويل:

بکل! دا ډېره ښه خبره ده، موږ به همداسې کوؤ.

×××××

د هغو لسو ورځو څخه پنځه ورځې يې ډېرې په خفګان تېرې شوې، بيا په شپږمه ورځه، سلام چې د څو کلو راهيسې په ښار کې اوسېده، کلي ته راغی، ما چې وليد ورته ومې ويل:

ته څوک يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه راته وویل

سلام! خو ودې نه ویل ته څوک یې؟

ما ورته وویل:

زما نوم احمدزی ده، د دې کلي اوسېدونکی یم.

سلام وویل:

زه هم د دې کلي اوسېدونکی یم، د کریم ګل ورور یم، خلک راته سلام ګل وايي، خو زه، ځان ته یوازې سلام وایم، هسې ودې نه ویل، چې کور کلي کې څه کیسې دي؟

ما ورته وویل:

هېڅ بس څو ورځې مخکې له کابل څخه دوه سرتېري راغلي ول...

چې کیسه یې واورېده، راته یې وویل:

سمه ده ګرانه! ته ډېره هوښیار یې، چې غټ شې له تا څخه به غټ فتنه جوړېږي، زه اوس خپل کور ته ځم، د خدای په امان کوچنیه!

د شپې خپل کور کې غړېدلی وؤ، بیا سبا غرمه بیا زموږ په کور کې غونډه شوه، په غونډه کې تر ډېرو خبرو وروسته داسې پرېکړه ونیول شوه، چې کلیوال به په استعلام کې ورته د ځمکې د تسلیمولو په بدل کې باید موږ ته په شهرنو کې کور راکړي او یا هم د هغې بیه راکړي، د استعلام په ځواب کې مو هم داسې ولیکل، بیا هغوئ هم له ډېر څه جر او بحث څخه وروسته دا راسره ومنله چې د هغو ځایونو کې د کورونو بیه ورکوي، خو تاسې به هم په یوه میاشت کې ټول کلی او ځمکې تشوئ.

چې پنځلس ورځې تېرې شوې، حکومت زموږ کلیوالو ته د ځمکو او کورونو پیسې ورکړې، زما پلار په شاه شهید کې کور واخیسته، له هغې وروسته زموږ کلیوالو چا خپل دروازې وېستلې چا خپل بامونه لوڅول، او چا هم خپلې ونې او باغونه وهل، او په کابل کې یې چې کوم کورونه ول، هلته یې وړل ترڅو بیا یې په ژمي کې د سون توکو پر ځای وکاروي، موږ هم خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکۍ، دوازې، لرګي، ځينې ونې او چنار له ځانه سره يوړل، په کومه ورځ چې موږ ته پيسې راکړل شوې، په هغې ورځې په سبا د داوؤد خان په ځای ترکی کېناسته، موږ چې کله کډه وکړه، نو هلته په کابل کې ډېر بدلون راغلی وؤ، زموږ ټول کليوالو په کابل کې کور واخيست خو د پخوا په شان، هغسې لوبې نه وې، د يوبل کور ته تګ او راتګ، کيسې او ملګرتيا نه وه، په کابل کې زموږ ملګري هغوئ ول، چې په ورځ کې به مو ورته دوه يا درې سلامه اچول، هسې د دې لپاره چې موږ به ډېر سلامونه اچول، ځينو خلکو به راته دهاتي هم ويل، خو ما د دې خبرو پروا نه کوله، مور به مې هم له کوره څخه د ډېر وخت لپاره دباندې نه پرېښودم، او تل به يې راته ويل:

زويه! ډېر دباندې مه ځه دا کلی نده، دا د کابل ښار ده، دلته به ورک شې، يا به هم له کومې بلې پېښې سره مخ شې.

ټوله ورځ به په کور کې ناست وم، يوازې ښوؤنځي ته تلای شوم، بس نور بل داسې ځای نه وؤ، چې زه دې ورشم، بس له ښوؤنځي څخه چې به رخصت شوم ترو به کورته راتلم، د دې لپاره به په کور کې وم، چې مور او پلار به مې ويل بايد درس ووايم، خو په داسې ځای کې درس کله ويل کېده، دا هغه کلی نه وؤ، چې به هغه ښکلې او پاکه، له عطر ډکه او تازه هوا پکې چلېده، په هرځای کې به يې د اوبو چينې وې، شا او خوا به يې غرونه ول، نور هغه د غوا ګانو شودې نه وې، د ورځې هغه پنځه بادام به نه ول چې زموږ ماغزه به يې قوي (زورور) کول او نه هم هغه شنه پټې وؤ، چې موږ به يې ونو تر سيوري لاندې درسونه ويل، دلته خو يوازې راډيو وه، چې له ماسپښين څخه تر ماسختنه به مې اورېدله، نور چې به د راډيو په اورېدلو ستړی شوم، بيا به ځمالستم، ورځې همداسې تېرېدې يو وخت هغه وخت چې حفيظ الله امين په تخت باندې ناست وؤ، زه په لسم ټولګي کې وم، زموږ د ادبياتو استاد نوی دې ښوؤنځي ته راغلی وؤ، د به تل د روسانو او د کمونيستانو صفتونه کول، د کمونيزم صفت به يې کاوه، ويل به يې:

کمونيزم يو داسې نظام دی، چې پادشاه او عام وکړي پکې يو شان دي، د کمونيزم نظام ژوند ډېر ښکلی ده...

د روسانو په اړه به يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورويان له کلونو راهيسې زموږ د هيواد او زموږ د خلکو مرسته کړې ده، کله چې داوؤد خان په افغانانو باندې ظلم پيل کړ او د خلق ګوند سره يې خيانت وکړ، روسيې د خلق ګوند سره مرسته وکړه، د داوؤد خان حکومت يې چپه کړ او د خلقيانو حکومت يې جوړ کړ، چې نوم يې هم جهوري خلق افغانستان پرې کېښود او مرستې يې اوس هم دوام لري، پر راتلونکې کې به هم دوام لري.

زموږ د ټولګي ډېر شوخ زده کوؤنکي احمد احمديار وويل: ښاغلي ښوؤنکيه! ومو نه ويل چې داوؤد خان څه خيانت کړی وؤ؟

ښوؤنکي په ډېر نرم انداز سره وويل:

داوؤد خان د خلق ګوند سره دا خيانت کړی وؤ، چې خپله داوؤد خان د خلق ګوند په مرسته واک ته ورسېده، خو څو ورځې وروسته يې له امريکا سره اړيکې ټينګې کړې، بيا څو ورځې وروسته يې د خلق ګوند د مشرانو د نيولو حکم صادر کړ، نو ځکه خو هم د خلق ګوند د اتحاد جماهر شوروي په ملاتړ په داوؤد خان کودتاه وکړه، او له واکه يې لرې کړ.

زموږ ټول کال په دې کې تېر شو، چې بايد عامه ګټه په نظر کې ونيسو، تر ادبياتو مو د لېنن او مارکس اصول ډېر زده کړي ول، د افغانستان علماء مو دومره نه پېژاندل، څومره مو چې د کمونيزم علماء پېژاندل، خو کله به چې موږ ترې نه پوښتنه وکړه چې د حفيظ الله امين او ترکي تر منځ څه تېر شوي ول، او لامل يې څه وؤ، نو خبره به يې تېروله، موږ هم نه پوهېدو چې ولې، ترڅو موږ په دوولسم ټولګي کې وؤ چې اتحاد جماهر شوروي په افغانستان باندې يرغل وکړ، زموږ ګاونډيان به د شپې له خوا بامونو ته ختل او په شعارونو باندې به سر ول، زما به نور زړه په تنګېده او کله کله به د موچي ماما خواته ورتلم، وروسته داسې آموخته شوم، چې له غرمې څخه به تربېګا پورې له موچي ماما سره وم، هغه داسې سړی وؤ:

د ملي بسو له تم ځای سره به ناست وؤ، کله به يې پخوانۍ کيسې راته کولې او کله به يې تاريخ راته بياناوه، کله به يې شعرونه راته ويل او کله به يې ټوکې کولې که رينښتيا درته ووايم ډېر پوه او ساعت تېره سړی وؤ، په ما باندې ځکه ډېر ګران وؤ، ځکه که به غمجن وم، که خفه وم، که پرېښانه وم او که به مريض وم، نو موچي ماما ته به راتلم، که صفا درته ووايم، نو د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرض دوا (درمل) ورسره وه، بې له مرګه، هسې یوه ورځ زما معدې ډېر سخت درد کاوه، ده راته یې وویل: چې هیلنی (نعنا) په اوبو کې ووېشوه، بیا ځنې یو ګیلاس وڅښه، انشالا (ان شاءالله) ښه به شې.

چې دا کار مې وکړ بلکل روغ او جوړ شوم.

یوه ورځ دته یو کس راغی او ورته یې وویل:

زما دا بوټونه شکېدلي دي، ویې ګنډه، سړي ډېر ښه اخلاق لرل، ښکلې او پاکې جامې یې اغوستې وې، ماته یې اشاره وکړه ،چې ګوښې ته شه، زه لږ ګوښه شوم او بیا یې وویل:

ځوانه! څه کار کوې؟

ما په کرار غږ سره وویل:

د دولسم ټولګي زده کوۀنکی یم.

سړي وویل:

نور څه کار کوې؟

ما ورته وویل:

هېڅ، بس دلته له موچي ماما سره ودرېږم.

سړي وویل:

نوم مې ګلاب ده او په قلاچه کې مې دوکان ده، که دې زړه وۀ چې کار وکړې هلته راشه، زه تاته یو کار در کولی شم ساعت به دې هم تېر وي او پیسې به هم ګټې، څه پکې وایې؟

زما سړی خوښ شو، ښه سړی راته ښکاره شو، سبا چې له ښوۀنځي څخه راووتم، د ګلاب خان دوکان خواته ورغلم، چې کله هلته ورسېدم، سلام مې واچاوه، په لومړي سر کې یې فکر نه وۀ، خو وروسته چې یې راوکتل، راته یې وویل:

راځه دننه دوکان ته ترڅو به په دروازه کې ولاړ یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم هلته کېناستم (کښېناستم) او هغه راته چای واچاوه، پیاله یې رامخته کړه، ویل یې:

چای وڅیکه (وڅښه) نوري خبرې به بیا سره کوو.

چې چای ومې وڅښه ده راته وویل:

ځوانه که زه تاته د میاشتې یو سلګون درکړم، ته له ماسره شاګردي کوې؟

ما ورته وویل:

ولې نه ګلاب کاکا! سر له سبا څخه ستا شاګرد یم، چې کله له مکتب څخه را رخصتېږم بس ترو به ستا دوکان ته راځم او له تاسره به په دوکان کې مرسته کوم.

سبا چې کله راغلم، ګلاب وویل:

رېښتیا ځوانه ما درڅخه پوښتنه هم ونه کړه، چې ستا نوم څه ده؟ خیر فکر وکړه چې اوس مې وکړه.

ما ورته وویل: زمانوم احمدزی ده.

ګلاب بیا زیاته کړه:

ستا پلار څه کار کوي؟

ما ورته وویل:

زما پلار د پوهنې وزارت کې کار کوي.

ګلاب بیا پوښتنه وکړه:

ته کوم ګوند کې یې؟ په خلق کې که په پرچم کې؟

ما ورته وویل زه نه په خلق کې یم او نه هم په پرچم کې اصلاً ماته دا ګروپونه خوند نه راکوي.

ګلاب بیا راته په یوه عجیبه انداز سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سرو جنډو (بیرغونو) والا پېژنې چې څوک دي؟

ما ورته وویل:

نه څه یې پېژنم، بس دومره ترې خبر یم چې شورویان دي او خلک هم وایي چې دوئ شورویان دي.

ګلاب خان وویل:

بلکل همداسې ده، پوهېږې دوئ څه غواړي؟

ما ورته وویل:

دوئ غواړي چې زموږ هیواد جوړ کړي، یو ډېر ښه نظام جوړول غواړي، داسې نظام چې د عادي مأمور او د ریس جمهور (ولسمشر) توپیر پکې نشته، دواړه یو ډول خواړه خوري، په هغه نظام کې که یوه کس مجرد وي او که واده سوی وي دواړه په یوې اندازه کار کوي.

ګلاب خان راته نور څه ونه ویل، څو ورځې نورې هم موږ د سیاست په اړه خبرې سره ونه کړې، نورې خبرې به مو کولې کیسې به مو کولې خو د دین او د سیاست په اړه مو خبرې نه کولې، وروسته له یوې اونۍ بیا ګلاب خان وویل:

ته رېښتیا وایې چې هغوئ د افغانستان جوړول غواړي؟

ما ورته وویل:

هو! خود رېښتیا وایم، او که زه ونه وایم هم بیا هم خبره همداسې ده!

ګلاب خان وویل:

اصل کې خبره داسې نه ده، شورویان غواړي چې له موږ څخه غلامان جوړ کړي، خپل استعمار اوږد کړي، خپل کمونیستي نظام پراخ کړي، او امپریالیزم ته ماته ورکړي، خو زموږ د هیواد ساتل زموږ دنده ده، زموږ د پلرونو او نیکونو پرمهال انګرېزان راغلي ول، هغوئ مو

(c) ketabton.com: The Digital Library


له مکناتېن څخه تر ډاکټر برايډن پورې ټول مردار کړل اوس دوئ هم مردارۀ ، که ستا خوښه وي، نو ته هم کولای شې چې له موږ سره په دې کار کې مرسته وکړې.

ما د هغه د خبرې په پرې کولو سره وويل:

سمه ده! چې هغوئ د افغانستان د ورانی او بيا يې بېرته په خپله نخچه (نقشه) جوړول غواړي او موږ باید د هغوئ مخه ونيسو خو ودې نه ويل چې څنګه به يې مخه نيسو، زه او ته په يوازې او که نور څوک هم په دې کار کې له موږ سره مرسته کوي؟

ګلاب خان وويل:

بلکل هغوئ غواړي افغانستان وران کړي او بيا يې په خپله نخچه جوړ کړي، موږ باید د هغوئ مخه ونيسو هسې که موږ مړه شو شهيدان يو او که چېرې ژوندي پاتې شولو، نو غازيان يو، په دواړو لارو کې بريالي يو.

ما ورته وويل:

په دې خبره خو زه هم پوهېږم، خو ما تاته وويل، چې موږ باید څه او څنګه وکړو، په يوازې خو نشو کولای چې د هغوئ مخه ونيسو څوک له موږ سره مرسته کوي؟

ګلاب خان وويل:

زه تا د جمعيت اسلامي دفتر ته بيايم او ته هلته خپل نوم ثبت کړه، هغوئ به تاته دنده درکړي.

×××××

سبا چې له ښوونځي څخه رخصت شوم، بيا د ګلاب خان دوکان (هټۍ) ته ورغلم، سلام مې ورته واچاوه، هغه چې زه وليدم دوکان يې بند کړ او له ماسره روان شو، دواړه د جمعيت اسلامي افغانستان دفتر ته ورغلو، هلته ګلاب خان خپلې خبرې داسې شروع (پيل) کړې:

دا هلک به تل د بسو د تم ځای ترڅنګ له موچي سره ناست وۀ، اوس غواړي چې له موږ سره يو ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمعیت اسلامي په دفتر کې زما نوم ثبت شو او دا دنده یې راکړه چې باید بېرته د موچي ماما ځنګ ته ورشي او نور به له هغه سره کېني او ګوري به چې څوک په دولت کې دي، هغوئ به څارې تر کوره به یې ورپسې یې، چې کله دې د څو کسو پتې پیدا کړې بیا به زموږ دفتر(د جمعیت اسلامي افغانستان دفتر) ته معلومات راوړې.

سبا له ښوونځي څخه وروسته د موچي ماما سره ناست وم، تر مازدیګر پورې څه خبره نه وه، مازدیګر یو صیمنصب (صاحب منصب) له موټر څخه راکته (راښکته) شو، زه یې په تعقیب کې وم، تر کوره پورې چې ورسېده، نو د کور پته مې ښه په ذهن کې وساتله، بیا چې کله کور ته ولاړم، هلته مې په کتابچه کې ولیکله، دې کار ته مې څو ورځې دوام ورکړ، بیا مې د جُمعې په شپه ټوله کتابچه د جمعیت اسلامي دفتر ته یوړله، هلته مې هغوئ ته وسپارله.

ګلاب هم هلته ناست وؤ، د جمعیت اسلامي د دغه دفتر مشر، راته وویل:

دغه کسان چې تا د دوئ معلومات موږ ته راکړل، دوئ ټول کمونیستان دي، اوس ستا دنده دا ده، چې دوئ ووژنې.

ترڅو ما خپله خوله خبرو ته جوړوله، ګلاب خان وویل:

نه! دی دې همدې کارته دوام ورکړي، دا کار بل چاته وسپاره، چې دا کمونیستان مردار کړي، دی دې خپل استخباراتي کارونو ته دوام ورکړي.

هغوئ هم دا خبره ومنله، او ماته یې وویل:

ځه ته خپل کارته دوام ورکړه، خپل کار کوه او هیواد ته خدمت کوه.

د استخباراتي کارونو داسې مصروف (بوخت) کړی وم، چې ډېر کله به ښوونځی هم راڅخه پاتې وؤ، درسونه خو لاڅه کوې، هسې هم د جمعیت اسلامي افغانستان ګوند د کابل د دفتر مشر به راته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره! ډېر د ښوونځي په اړه فکر مکوه، دا مصطفیٰ او صادق چې ویلی څه گټه یې کړې ده؟ اوس له تاسره په یوه کتار (قطار) کې دي، ته د کمونیستانو کورونه پیدا کوې، او صادق یې وژني، بس همدا توپیر درکې دی.

نو ځکه خو زه هم دومره د درسونو په غم کې نه وم، په همدې کې یوه میاشت تېره شوه، یوه ورځ زموږ په ښوونځي کې د درې ورځو لپاره د ښوونکو ناسته وه او په ننگرهار کې د جمعیت اسلامي د خاصو (ځانگړو) غړو غونډه وه، خبره داسې وه، چې د ښوونکو د ناستې په دویمې ورځ د جمعیت اسلامي د خاصو غړو ناسته وه، او زموږ مکتب خو د مالیمانو (ښوونکو) د ناستې لپاره رخصت وه، نو ځکه خو زه هم د جمعیت اسلامي د خاصو غړو غونډې ته چمتو شوم، ما د جمعیت اسلامي د دې دفتر مشر ته وویل:

وروره! سمه ده زه هم غواړم چې په غونډه کې گډون وکړم، آیا زه هم کولای شم چې گډون وکړم؟

د دفتر مشر وویل:

نه! ته نشې کولای چې په هغې غونډه کې گډون وکړې، ته باید خپلې دندې ته دوام ورکړې او ته خو نشې کولی چې خپل مکتب پرېږدې.

ما ورته وویل:

خو مکتب رخصت دی!

د دفتر مشر وویل:

چې ومې ویل چې نشې تلای بیا نشې! په خبر پوه شوې؟

ما څه ونه ویل زړه مې وؤ چې له دفتر نه ووځم او د موچي ماما خواته ورشم، خو چې د دفتر دروازې ته ورسېدم، د دفتر مشر را غږ کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده! چې دومره شوقي يې، کولای شې، چې په دغې غونډې کې ګډون وکړې، خو پام کوه سبا ماسپښین باید دوه بجې د ننګرهار په بهسودو کې اوسې په هغه ځي کې چې کوم دفتر دی، هغه خو دې لیدلی ده؟ هغه چې تېره جمعه ته او صادق ورغلي وئ؟ هلته غونډه ده.

سبا د دوؤ بجو پرځای یوولس بجې مې هلته ځان ورساوه، ځکه ما ویل چې ناوخته نه شي.

هلته مې چې خپل ساعت (ګړی) ته وکتل نو لا غونډې ته ډېر وخت پاتې وؤ، نو ځکه خو زه یوې کوټې لاړم، ما ویل مخکې تر ډوډۍ به یو څه خوب او آرام وکړم، لږ ګرمي وه او لږ ما سفر کړی وؤ، نوځکه خو مې ډېره ګرمي شوې وه، په همدې کوټې کې مې چې تشناب ولید، تشناب ته ننوتم ما ویل غسل به وکړم، په کوزه (لوټکه) کې مې نوې اوبه واچلې چې د دوؤ کسانو غږ راغی، چې فارسي خبرې يې کولې، لږ مې پام ورته ونیوه، ګورم چې مشر او صادق ده، د دغه ځي د فتر مشر زړه وؤ چې څه ورته ووايي، کېدای شي دا به يې ورته ویل:

چې زه دلته راغلی یم؟

خو مشر ډېر په غوصه په فارسي ژبه ورته وویل:

له لاري څخه لرې شه! ډېرې خبرې مکوه ځه ورک شه!!!

ما مخکې هم مشر لیدلئ وؤ، خو دومره په غوصه مې کله هم لیدلی نه وؤ، مشر ډېره حوصله لرله، هېڅ پوه نشوم چې دا ځلې ولې دومره په غوصه وؤ.

مشر صادق ته وویل:

ډېره مهمه خبره دا نه ده چې شورویان دې له افغانستان څخه ووځي، تر ټولو مهمه خبره دا ده چې باید حکومت د پښتنو له لاس څخه د تل لپاره ووځي او زموږ لاس ته راشي، ځکه دوئ تل په موږ ظلم کړی ده، او موږ په دوئ رحم کړی ده، اوس وخت داسې ده چې موږ به په دوئ ظلم کوؤ، او باید د دوئ څه له وسه ونه شي، موږ باید د حزب اسلامي افغانستان د پراخېدو مخه ونیسو او د هغه پرځای باندې باید موږ پراخ شو، خو تر ټولو مهمه ده دا چې ترڅو چې شورویان نه وي وتلي باید د ټولو ګوندونو په منځ کې اتحاد موجود وي، ځکه که اتحاد نه وي نو بیا نه شو کولای چې شورویان له هیواد څخه وباسو او که شورویان له هیواد څخه ونه شو باسلی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا امریکا هم موږ سره خپلې مرستې دروي چې دا کار به نه یوازې زموږ ، بلکې د ټولو په زیان وي.

دوئ ډېرې نورې خبرې هم وکړې، خو زما ورته هېڅ پام نه وؤ، ما یوازې د هغو خبرو په اړه سوچ کاوه چې دوئ مخکې کړې وې، د دې خبرو په اورېدو زما په سر کې سوچونه پیدا شول او د سوچونو په پیدا کېدو سره زما په سر درد شو، لږ وروسته زه هم ورغلم د ډوډۍ د خوړلو لپاره، ډوډۍ مې لږ څه وخوړه هسې مې سر هم خوږېده او زړه ته مې هم نکېده، زړه مې راته ویل چې له دې ځایه څخه ووځه او سیده (مخامخ) کورته ولاړ شه، خو بیا مې هم حوصله وکړه په غونډه کې مې ګډون وکړ، یوازې دا خبرې زما د خفګان لامل نه وؤ شوی، بلکې له هغه سره سره دا خبره هم زما د خفګان لامل شوې وؤ، چې ما به کوم لیستونه او آدرسونه (پتې) ورکولې هغوئ به یوازې هغه کسان وژل چې پښتانه به ول او کوم کسان چې به پښتانه نه ول هغوئ به یې نه وژل، درېم دا چې هغوئ به ماته ویل:

خپله دنده ترسره کوه، مکتب (ښوؤنځي) باندې څه کوې؟ صادق چې مکتب ویلی څه ګټه یې کړې ده؟ خو هغه ده، هغه هم له تاسره په یوې ډله کې ده.

خو سهیل چې فارسي ژبی وؤ، هغه ته به یې ویل:

چې ته خپل درس وایه، په دې کارونو کې ډېرې ګوتې مه وهه او پام کوه چې مکتب خوشې نه کړې!

چې غونډه تېره شوه، نور ماښام وؤ، زما هم طبعیت ډېر جوړ نه وؤ، نو ځکه مې شپه هم هغلته د جمعیت په دفتر کې تېره کړه.

سبا سهار وختي مې له ننګرهار څخه د کابل په خوا حرکت راوکړ، یوؤلس نیمې بجې کورته ورسېدم، ډوډۍ مې وخوړه، تر هغې وروسته مې سر کېښود ویده شوم، هسې خو ما ټوله شپه خوب نه وؤ کړی، ځکه ټوله شپه په سوچونو کې پروت وم، مازدیګر مهال وؤ، چې له خوبه پورته شوم (پاڅېدم) مخامخ د موچي ماما خواته ورغلم، خو نه پوهېدم چې څنګه د خپل زړه راز ورسره شریک کړم، ځکه چې په زړه کې مې رنګارنګ خبرې تېرېدې، ما ویل چې اوس به موچي ماما راته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو ته تر اوسه پورې به د همدې کارونو لپاره دلته ودرېدلې؟

او همداسې نورې ډېرې خبرې، هسې خو زه نه پوهېږم، چې نورو ته د خپلو دردونو ویل به ښه کار وي او که بد؟ خو په دې پوهېدم چې که خپل دردونه نوروته ووایې، نو تر ډېره حده پورې زړه سپکېږي، له ما څخه لاړه ورکه وه، چې څنګه ورته ووایم او که ېبخي (له سره) ورته ونه وایم، په همدې سوچونو کې وم، چې موچي ماما ته ور ورسېدم، موچي ماما ته مې سلام واچاوه، موچي ماما ځواب راکړ، له ځواب وروسته تر نیم ساعت پورې بوخت وۀ، وروسته چې وزګار شو، ماته یې چې وکتل راته یې وویل:

څه خبره ده، چې دومره غمجن او تروش ناست یې؟

ما ورته ته ټوله کیسه وکړه، تر هغې وروسته ده وویل:

هېڅ د تشویش خبره نده، بلـه دا چې کېدای شي چې اصلاً د تاجک او پښتون خبره نه وي، بکلې ډېر هغه کسان چې تا د هغوئ پته دوئ ته ورکړې، هغوئ به په دولت کې کار نه کاوه؟ یا که کار یې هم کاوه، نو په ملکي برخه کې به یې کاوه؟ نو ځکه به هغوئ پرېښي وي.

ما ورته وویل چې:

نه ماچې کوم کسان تعقیب کړي ول، هغوئ ټول هم دولتي ول او هم نظامي، بله دا چې ما یوازې هغه وخت تعقیبول چې نظامي جامې به یې په تن وې، خو هغوئ یوازې هغه کسان وژل چې پښتانه ول.

هغه راته وویل:

هېڅ خبره نه ده، زه به دې د حزب اسلامي دفتر ته بوځم، وبه ګورو، چې هغوئ درته څه وایي.

ما ورته وویل:

سمه ده! لاړ خوبه شو، خو ودې نه ویل کله؟

موچي ماما راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا چې له مکتب څخه رخصت شولې، ماته راشه د ماښام شپږ بجې به د حزب اسلامي دفتر ته ورشو.

سبا چې له ښوؤنځي څخه رخصت شوم، مخامخ د موچي ماما خواته ورغلم، موچي ماما ته مې وویل:

ماما زه راغلم، له خیره سره شپږ بجې به ځو.

موچي ماما راته وویل:

سمه ده! ته صبر کوه، انشالا چې وربه شو.

چې پنځه نیمې بجې شوې، د حزب اسلامي دفتر خواته روان شولو، چې د حزب دفتر ته ننوتلو، نو موچي ماما سلام واچاوه، زه هم ننوتم، هلته یو کس ناست وؤ، تصبېح یې اچولې چې څنگه یې موږ دواړه ولیدو، نو پورته شو، د سلام ځواب یې راکړ او بیا یې موچي ماما او ماته لاس راکړ، موږ ته یې د کېناستو بلنه راکړه، موږ هم کېناستو، موچي ماما خپلې خبرې داسې پیل کړې:

دا هلک به هر وخت زما ترڅنگ کېناسته، چې به کله خفه وؤ، یا به غمجن وؤ، یا به په تشویش وؤ، تل به له ماسره ناست وؤ، یوه ورځ یو کس د گلاب په نامه راغی او دی یې لږ څه گوښه کړ، د جمعیت اسلامي دفتر ته یې وباله، دی هم هلته ورسره ولاړ، د جمعیت اسلامي په گوند کې یې نوم لیکنه وکړه، خو بلاخره...

موچي مامازما په اړه ټول معلومات، هغه (د حزب دفتر مشر) ته ورکړل، هغه له ما څخه پوښتنه وکړه:

ودې نه ویل چې په جمعیت اسلامي که څه دنده په مخ کې لرې او څه دنده کوې؟

ماورته وویل:

داسې فکر وکړئ، چې زه د جمعیت اسلامي د استخباراتو غړی یم.

هغه راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادق څه کاره ده؟

ماورته وويل:

هغه زمونږ د ډلې مشر او هم دا ډول قاضي ده، يعنې د هغه کار دا دی چې د کومو کسانو لېست چې زه ورکوم، د هغوی په اړه پرېکړې کوي، که يې خوښه شوه وژني يې او که يې خوښه شوه هېڅ هم نه ورته وايي.

هغه راته وويل:

زه نه شم کولای چې تاته د غړيتوب کارت درکړم، خو په دې نږدې وختونو کې زمونږ غونډه په پېښور کې دا بربري، مونږ څو ورځې تر غونډې مخکې تاته خبر درکوؤ، چې کله مو خبر درکړ، ته به ننګرهار ته راشې، له هغه ځای څخه به بيا مونږ تا ورسوؤ، ته به له مشر سره خبرې وکړې، تر هغه وروسته به مشر ستا په اړه پرېکړه وکړي.

ما خپل سر د هو په معنیٰ وښوراوه، له دفتر څخه راووتو، تر يوه ځايه پورې زه او موچي ماما يوځای ولاړو تر هغه وروسته بيا ما له موچي ماما سره خدای په اماني وکړه، زه کورته ولاړم، تر چهارشنبې پورې څه خبره نه وه، ما خپل کشفي معلومات ټولول، د چهارشنبې په ورځ موچي ماما راته وويل:

سبا ته يې غوښتی يې سبا مازديګر له جلال آباد څخه حرکت کوي، نو ځکه خو بايد همدا اوس حرکت وکړې.

زه هم مخامخ کورته ولاړم، مور مې په کور کې وه، خو پلار مې دندې ته تللی وؤ، زه ولاړم خپل کالي مې بدل کړل او بيا مې له مور څخه يو څو روپۍ راوخيستې، د جلال آباد خواته مې حرکت وکړ، چې کله درونټې ته ورسېدم راپه ياد شول، چې ما خو له موچي ماما څخه پوښتنه ونکړه، چې هغوئ په کوم ځي کې پيدا کولی شم، خو خبره ډېره ښه مخکې تللې وه، ځکه کله چې زه جلال آباد ته ولاړم، د موټر په وروستي تم ځای کې د حزب اسلامي د کابل د دفتر مشر ولاړ وؤ، هغه يو بل کس راوښود، هغه ته يې وويل:

دی پېښور کې زمونږ دفتر ته بوځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لـه هغـه سرې سره د دفتـر لـه مشر څخـه رخصت شـولو، زه او سرې دواړه یـوه مـوټر تـه وختلو، په هغه موټر کې اته کسه ناست ول، موږ چې وروختلو، نو یو څو دقیقې نورې هم مـوټر ولاړ وؤ، تر هغې وروسته موټر ډک شو او د تورخم په خوا وخوځېده، چې کله تورخم ته ورسېدو، نو له موټر څخه راښکته شولو، لاړو د پېښور موټر ته وختو، هلته په موټر کې ناست ولـو، ترڅو نیمه شپه به وه چې موټر په یوه ځای کې ودرېده، ډرېور وویل:

ښاغلو! دا وروستی تم ځای ده، زه او هغه کس چې له ماسره وؤ، یو خواته ولاړو، هغـه د یـوې کوټې دروازه خلاصه کړه، دواړه هلته ننوتو، شپه مو هلته تېره کړه، سهار چې راپاڅېدم، ګـورم چې پوره اته نیمې بجې دي، دباندې ووتم، ټټی (بیت الخلا) تـه ننوتم، هلتـه مـې خپـل حاجت پوره کړ، تر هغې وروسته بېرته لاړم، په تشناب کې مې اودس وکړ او د سهار د لمانځـه قضـایي مې راوګرځوله، تر هغه وروسته بېرته د باندې ووتم، چې ښکته او پورتـه مـې وکتـل، دغـه ځـای داسې نه ښکارېده، لکه چې یو ښار دې وي، داسې ښکارېده لکـه یـوه پـوځي هـډه چـې وي، لـږ ښکته ولاړم، څه ګورم چې ځینې کسان تمرین کوي، وسلې دي، رقم رقم، زړې پراشوټ ټوپکې پکې ببخي ډېرې دي، بېرته کوټې ته راوګرځېدم، څه ګورم چې ملګری مې هم په کوټه کې دی، هغه راته وویل:

ځوانه څه دې کول، د دباندې ځای ننداره دې کوله؟

ما لومړی د هو په معنیٰ سر وښوراوه، بیا مې ورڅخه وپوښتل:

رښتیا ودې نه ویل چې دا کوم ځای ده؟

هغه راته وویل:

دا خړ ډنډ ده، د حزب اسلامي یو تر ټولو مهم مرکز او د مجاهدینو د روزلو مرکز.

ما ورته وویل:

موږ به دلته څه کوؤ؟

هغه راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ بس يو څو شپې پکې تېروؤ او ترهغې وروسته بيا له مشر سره ګورئ او بيا تاسو پوهېږئ او مشر.

په دې کمپ کې ګرځېدم، يوې خواته ولاړم، هلته د وسلو لويه ډيپوع وه، هلته ننوتم، څه ګورم چې ځينې وسلې يوې خواته پرتې دي او ځينې بلې خواته، خو په يوې خبرې پوه نشوم، هغه دا چې کومې وسلې چې يوې خواته پرتې وې د هغوئ په ماډل بلې خواته هم پرتې وي، نو د ډيپوع له مسوؤل څخه مې وپوښتل:

سلام عليکم وروره! ودې نه ويل چې دا وسلې څنګه نيمې دې خواته پرتې او نيمې هغې بلې خواته؟

هغه راته وويل:

وعليکم السلام ګرانه ودې نه ويل ته څوک يې؟ دلته څه کوې؟ ريښتيا ودې نه ويل چې ډيپوع ته څنګه ننوتې ساتونکو څنګه دننه پرېښودې؟

ما ورته وويل:

زه دلته د دې لپاره راغلی يم، چې بايد له مشر سره وګورم او حزب غړی شم، پاتې شوه، دلته هخوا او دېخوا ګرځېدم، بيا يو وخت دلته ننوتم، په دروازه کې چې کوم ساتونکي ول هغوئ راته وويل:

څوک يې چې غواړې دننه ولاړ شې؟

ما ورته وويل:

په تاسو يې څه؟

بس هغوی هم نور څه ونه ويل اوزه هم دننه شوم، همدومره.

بيا د ډيپوع مسوؤل راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده زما نوم جمیل دی، زه دلته د ډیپوع عمومي مسوؤل یم، هو ریښتیا تا ویل دا وسلې ولې ببلې ببلې ایښي دي، اصل کې خبره داسې ده، چې دا نیمې جوړې دي او دا نیمې خرابې دي.

×××××

زه خو هسې هم د ریشکو (رېکشا) انجینر اومستري وم، بس ورغلم لـه خرابو ټوپکونو څخه مې یو راوخیست خلاص مې کړ، د ماشې ستنې یې ستونزه لرلـه، یـو بـل خـراب ټوپـک مـې هـم راوخیست، چې د هغه د ماشې ستنه مې هم را ووېسته نو ډاډمن شوم، چې ستونزه یې همدا ده، د دوهم ستنه مې لومړي ته ورواچوله لږ مې ټیټه غوړه هم کړه، جمیل ته مې وویل:

اوس یې چیک کړه، چې څنګه ده سم کار کوي او که نه؟

جمیل ساتونکي ته داسې غږ کړ:

اصغره! راشه دا ټوپک چیک کړه!

اصغر راغی ټوپـک یـې دبانـدې یـوړ، هلتـه یـې مرمـۍ ورتېـره کـړه، ډز یـې پـرې وکـړ، بېرتـه راغی ویې ویل:

ولې څه پرې شوي دي؟

جمیل ورته وویل:

خرابه خوبه نه یې؟

اصغر وویل:

نه! ما چې وکتله ډېر ښه کار یې کاوه!

جُمعه هم همداسې تېره شوه، د شنبې په ورځ زما ملګري راته وویل:

راځه! چې ولاړ شو او لـه مشر سره وګورو نن یې ورځ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت مو وکړ، تر څو ساعته سفر وروسته، یوه ځي ته ولاړو، هلته یو ډېر ښکلی دفتر وؤ، ما یې فکر هم نشو کولای چې افغانان دې دومره ښکلی دفتر ولري، چې څنګه دفتر ته ورننوتم، ګورم چې د کابل د دفتر مشر جمال ناصر هم هلته ناست ده، جمال ناصر ته مې وویل:

اسلام علیکم! یاره! ته هم ډېر ناځوانه وختې، زه دې په جلال آباد کې یوازې پرېښودم او ته دلته راغلې!

جمال ناصر راته وویل:

هغسې خبره نده چې ته یې فکر کوې! ما لږ څه کار لاره، بیا ته خو یوازې نه وې، جمال درسره وؤ، که هر څه ستونزه دې درلوده، نو جمال ته به دې ویلې وای.

ما ورته وویل:

هو جمال راسره وؤ، خو تا داسې څه مهم کار لاره، چې کولای دې نه شول، چې ماسره راشې او بیا یوازې راغلې؟

جمال ناصر راته وویل:

هېڅ کومه لویه ستونزه نه وه، هسې ما ویل چې کوم کسان چې له کابل څخه راځي هغوئ لاره ورکه نه کړي، بس همدومره!

ماورته وویل:

سمه ده! اوس باید څه وکړو؟

جمال ناصر وویل:

هېڅ یاره لږ وروسته به رحیم ګل هم راشي او درېواړه به د مشر دفتر ته ورننوځو، ته څه پکې وایې؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


سمه ده! چې ځنګه دې خوښه وي، خو لږ ژر کوه، ځکه چې موږ باید بېرته کابل ته ولاړ شو، مکتب مې پاتې کېږي.

چې رحيم ګل راغی بيا نو موږ درې واړه (زه، رحيم ګل او جمال ناصر) د مشر دفتر ته ورننوتو، چې ځنګه موږ ورننوتو، نو د ډيپوع مسوؤل جميل هم دننه ننوت، چې کله مشر جميل وليد ورته وې ويل:

جميله! ووځه!

جميل وويل:

خو ښاغليه زه د دغه هلک په باره کې (په اړه) تاسره کار لرم.

مشر وويل:

سمه اوس ووځه بيا زه تاته غږ کوم.

چې کله جميل ووت، نو جمال ناصر زما په اړه مشر ته ټول معلومات ورکړل، بيا تر هغه وروسته مشر وويل:

ښه! نو ته د جمعيت اسلامي د استخباراتو يو غړی يې، نور غړي يې هم درته معلوم دي او که نه؟

ما ورته وويل:

ټول نه! خو ځينې ځينې، حتې ډېر يې راته معلوم دي، د هغوئ په اړه څه پلان لرې که څه؟

مشر وويل:

دا چې ته د يوې ډلې د استخباراتو غړی يې که هره ډله وي، په تا باور نه شي کېدای، خو زه په تا باور کوم، ته له ماسره ژمنه وکړه، چې کله هم خيانت نه کوې، ژمنه کوې د يو پښتون او مسلمان په صفت؟

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


هو ژمنه کوم خو په دې شرط چې ته به هم دا ژمنه راسره کوې، چې له مورږ سره، زمورږ له دين سره، زمورږ له خاورې سره او زمورږ له خلکو سره به خيانت نه کوې.

مشر وويل:

ما خو دا ژمنه له مخکې څخه کړې ده، اوس بـه يې ستا تـر مـخ تـازه کـړم، ژمنـه کـوم چـې لـه خاورې، دين، خلکو، مجاهدينو او د هغوئ له کورنۍ سره به خيانت نه کوم.

بيا مشر ماته وويل:

زه تا له جميل سره معرفي کوم (پېژنم)، هغه به تا په خـاد (خـدمات اطلاعـات دولتـي) کـې هـم شامل کړي، تر هغه وروسته به بيا ته خپل عمليات پيل کړې، خو يـوه خبـره واوره! هغـه خبـره دا ده چې سر له نن څخه ستا نوم بهرام خان دی او ستا پټ نوم ستا هغه نوم چې له مورږ سره به ثبت وي، هغه ناظر ده، ناظر نه يوازې ستا نوم ده، بلکـې سـتا رمـز، راز او شـفر هـم ده، نـو څکـه پـام دې وي، چې دا شفر افشا نکړې، سمه ده؟

ما ورته وويل:

سمه ده ښاغليه! خو ودې نه ويل چې جميل بـه څنګـه مـا پـه خـاد کـې داخـل کـړي، جميـل خـو ټوله ورځ دلته په ډيپوع کې وي؟

مشر وويل:

دا جميل نه درته ښايم، هغه بل جميل ده، چې کله بېرته کابل تـه وګرځېـدې وبـه يـې وينـې او کېدای شي دواړه يو ځای ولاړ شئ.

بيا مشر ماته وويل:

ورشه! هغه د ډيپوع والا جميل ته غږ کړه.

زه هم لاړم او جميل ته مې غږ وکړ، چې کله جميل راغی نو مشر وويل:

تا څه ويل جميل جانه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل وویل:

مشره! دا هلک په وسلو ښه پوهېږي، په دې څو ورځو کې يې زموږ ډېر شمېر وسلې جوړې کړې، اوس زه غواړم چې تر دې وروسته دې دا هلک له ماسره په ډیپوع کې کار وکړي، ته پکې څه وایې مشره؟

مشر زما خواته وکتل او بیا يې وویل:

ته پکې څه وایې؟

ما ورته وویل:

ته پوهېږې چې زما مکتب لږ پاتې ده او همدا رنګه زما کور په کابل کې ده.

مشر د ډیپوع مسوؤل ته وویل:

جمیل جانه! دې کارته به بل کس پیدا کړو، خو بهرام درې نور ډېر مهم کارونه لري، دی پرېږده چې خپل کارونه سرته ورسوي.

جمیل وویل:

نو چې داسې وي، زه هم درڅخه ځم، تاسو خپلو خبرو ته دوام ورکړئ، خدای په امان!

بیا ما مشر ته وویل:

ښاغلیه تاویل چې ستا په اړه له جمیل سره غږېدلی یم، زه څه وکړم؟

هو! زه ستا په اړه له جمیل سره غږېدلی یم، بله دا چې اوس به جمال ناصر درسره ولاړ شي او تا به جمیل ته ور وپېژني.

ما وویل:

ښه خبره ده! ښاغلیه اوس تلای شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر اجازه راکړه، زه او جمال ناصر دواړه د مشر له دفتر څخه راووتو، چې کله دباندې راغلو، یوه کس جمال ناصر ته وویل:

زما ببخ دي په انتظار وو بسته، هغه کس چې تا راوستی وؤ، هغه څه شو؟

جمال ناصر وویل:

دغه ده! ستا ملګری نور مو نو په مخه ښه!

تر تورخم پورې موږ دواړه په یوه سیټ کې نه وؤ، زه مخکې وم او جمیل زما تر څټ ناست وؤ، بیا چې کله په تورخم کې ښکته شولو، نو جمیل او زه دواړه، د جلال آباد موټر ته وختلو، څنګ په څنګ کېناستو، ما له جمیل څخه پوښتنه وکړه:

جمیله! زه پوه نشوم، څنګه یې دومره ژر په موږ باندې باور وکړ او موږ یې دلته راوستو؟

جمیل وویل:

موږ یې له ډېر پخوا څخه څارلو او کله چې پوه شول، چې موږ په دین او وطن باندې مئین خلک یو، نو موږ یې دلته راوستو.

ما بیا له جمیل څخه وپوښتل:

دا چې زه له تاسره شوم نو باید څه وکړم؟

جمیل وویل:

موږ چې کله کابل ته ورسېدو لومړی به جمعیت اسلامي دفتر ته ورشې او ورته وبه وایې، چې څه کار لرې او نشې کولی ډېر وخت لپاره دلته راشې، بیا به کراره په خپل کور کې کېنې، یوازې به مکتب ته ځې بس، پوه شوې؟

ما وویل:

سمه ده، خو دا وخت خو به نه زیاتېږي؟

جمیل وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي چې زیات شي، خو بیا به هغه وخت ته ځینو ځایونو ته تلای شې، خو زه درته وایم چې اوس دې پر پام کوه.

لږ شېبه دواړه غلي ولو، بیا جمیل وویل:

په کوم صنف ټولګي) کې یې؟

ما ورته وویل:

په دولسم صنف کې خو یو څو میاشتې وروسته خلاصېږي.

جمیل وویل:

کوم پوهنځی دې خوښېږي؟

ما ورته وویل:

طب! یعنې جراحي.

جمیل وویل:

سمه ده! زما یوه خور هم په دولسم صنف کې ده! د هغې هم طب خوښېږي، کېدای شي هغه هم طب ووایي.

ما باندې خوب راته، کرار ویده شوم، لږ شیبه وروسته جمیل راباندې غږ وکړ:

پورته شه! زمری یې څه کُنګ خو نه یې چې ټوله ورځ خوبونه کوې؟

جمیل بیا زیاته کړه:

موږ باید یو څو شپې په جلال آباد کې هم تېرې کړو.

ما ورته وویل:

خو ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمیل وویل:

ځکه موږ باید د کابل استخباراتو ته دا ثابته کړو، چې موږ څو ورځې په جلال آباد کې تېرې کړې دي، له دې سره به په موږ باندې هېڅ شک ونه کړي، بس همدومره، کېدای شي چې ته به هم پوه شوی یې؟

بیا جمیل وویل:

نه پوهېږم چې ستا به ټوکې زده وي او که نه، خو زه درته یوه ټوکه وایم، ټوکه داسې ده:

یوه ورځ داوؤد خان غوښتل چې د ښار حال معلوم کړي، نو په زړو کالیو کې دباندې ووت، تر لږ قدم وهلو وروسته د یوه ګاډیوان مخې ته ودرېده، هغه ته یې وویل:

السلام علیکم! وروره تر دارالمان پورې په څو ځې؟

هغه وویل:

باید ته پوه شې!

داوؤد خان وویل:

لس روپۍ؟

ګاډیوان وویل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وویل:

شل روپۍ؟

ګاډیوان وویل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرش روپۍ؟

ګاډی وان وویل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وویل:

څلوېښت روپۍ؟

ګاډی وان وویل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وویل:

پنځوس روپۍ؟

ګاډی وان وویل:

خاورې پنځوس روپۍ!

داوؤد خان وویل:

سل روپۍ؟

ګاډی وان وویل: هو! واچوه چکه

داوؤد خان وویل:

تاته باید سزا درکړل شي، په دې بیه!

ګاډی وان وویل:

ولې ته څه عسکر یې چې ماته به سزا راکوې؟

داوؤد خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پورته ولاړ شه!

ګاډی وان وویل:

ظابط یې؟

داوؤد خان وویل:

نه پورته ولاړ شه.

ګاډی وان وویل:

افسر یې؟

داوؤد خان وویل:

نه پورته ولاړ شه.

ګاډی وان وویل:

ډګروال یې؟

داوؤد خان وویل:

نه پورته ولاړ شه.

ګاډی وان وویل:

جنرال یې؟

داوؤد خان وویل:

نه پورته ولاړ شه.

ګاډی وان وویل:

ستر جنرال یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوؤد خان وويل:

خاورې ستر جنرال!

ګاډی وان وويل:

داسې نشي چې ته داوؤد خان واوسې؟

داوؤد خان وويل:

هو! واچوه چکه.

ګاډی وان وويل:

جنابه! ما وبښه، غلطي راڅخه وشوه.

داوؤد خان وويل:

لکه چې وډار شوې؟

ګاډی وان وويل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وويل:

لکه چې باد دې ووت؟

ګاډی وان وويل:

نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وويل:

لکه چې تښې دې ولاړې؟

ګاډی وان وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه! پورته ولاړ شه.

داوؤد خان وويل:

لکه چې غول دې وکړل؟

ګاډیوان وويل:

هو! عاليجنابه!

ما جميل ته وويل:

ښه نو داوؤد خان سم دم يو ټوکي وؤ؟

جميل وويل:

دا خبرې پرېږده اوس ته هم يوه ټوکه راته ووايه.

ما هم خپلې خبرې داسې پيل کړې: په باميانو کې هوا ډېره سړه شوه، خلک نور په تنګ شول، د ملک کورته ورټول شول، خپلو مشرانو ته يې وويل:

خبره داسې ده، چې دا هوا نوره د زغملو وړ نه ده، نور بايد کومه لاره وګورو، آخر بايد يو کار وکړو کنه؟

يوه سپين ګيري په خپله کمه ګيره کې لاس واهه او بيا يې وويل:

خو څه به وکړو؟

يوه يو څه ويل او بل بل څه، خو بلآخره يوه وويل:

داسې به وکړو، چې څو کسه مشران به کابل ته ولېږو، هغوئ به له امير عبدالرحمٰن خان څخه فرمان راوړي، ترڅو واوره اوبه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو د ده خبره ومنله، شپږ یا اووه کسه مشران د کابل خواته ور روان شول، چې کله کابل ته د عبدالرحمٰن خان ځنګ ته ورسېدل نو امیر عبدالرحمٰن خان ته یې ټوله کیسه وکړه، امیر عبدالرحمٰن خان خپل یو کس راوغوښت او په غوږ کې یې ورته وویل:

ته لاړ شه! یو من میمیز له یو من برګو خوږیو(هغه حشرات دي چې په نمجنو ځایو کې وي) سره ګډ کړه، او بیا یې راوړه!

سړی لاړه، دوه یا دري ورځې وروسته راغی یوې بوجۍ ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

ښاغلیه! کوم څه مو چې په کار ول، په ډیره لوړه بیه مې درته راوړل.

عبدالرحمن خان سړي ته وویل:

ټول په میدان کې وشینده!

سړي چې ټول په میدان کې وشیندل، عبدالرحمٰن خان د بامیانو نه راغلو مشرانو ته وویل:

ټول یې کړئ او ویې خورئ.

د بامیانو د مشرانو له ډلې څخه یوه په دري وویل: پلي یې پربږدئ اول یې سپاره ونیسئ.

نورو مشرانو هم لومړۍ خوږئ نیولې او خولې ته یې اچولې، عبدالرحمٰن خان چې دا حال ولید، نو خپل کس ته یې وویل:

دوی د دوؤ میاشتو لپاره مېلمانه کړه!

چې کله دوه میاشتې تېرې شوې او هوا هم په تودېدو (ګرمېدو) شوه، عبدالرحمٰن خان هم فرمان ولیکه او دوئ ته یې ورکړ، څه تحفې یې هم ورکړې او ورته ویې ویل:

اوس لاړ شئ، نور له خیره سره، هر څه به سم شي.

کله چې د بامیانو نه راغلي مشران بامیانو ته ورسېدل، څه ګوري چې له واورو څخه اوبه روانې دي، نو یوه په دري ژبه وویل:

د عبدالرحمٰن خان د فرمان زور مو ولید، چې له واورې څخه یې میتیازې ووېستې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کېدای شي، چې تاسې به وایئ چې ده خپله کیسه له ټوکو څخه ډکه کړه، خو اصل کې خبره دا ده، چې ما غوښتل تاسو ته دا وښیم، چې زما هم ټوکې زده دي، نو اوس ځو اصلي کیسې ته!

×××××

چې کله جلال آباد ته ورسېدو، هلته مو یوه کوټه لټوله، خو کوټه نه پیدا کېده، بلآخره یوه سړي راته وویل:

ګورۍ ګرانو ملګرو! زه تاسې ته کوټه درکوم خو په دې شرط چې څلور برابر کرایه به راکوئ.

جمیل وویل:

نه یاره! ته څه وایې، زه بهرام جانه چې ځو.

دباندې چې ولاړو، جمیل له لږ سوچ وروسته راته وویل:

اوهو! یاره! اوس یې خوند وکړ، ځکه که چېرې دی له موږ سره دا ومني چې زموږ یوه ورځ هم په څلورو شماري، نو زموږ کار به هم جوړ شي، ځکه بیا به هیڅوک هم پوه نه شي چې موږ پېښور ته تللي وو.

زه او جمیل دواړه بېرته دننه ورننوتو، جمیل سړي ته وویل:

موږ ستا خبره منو، خو په دې شرط چې که موږ دلته یوه شپه تېرۇ، نو ته به خلکو ته وایې چې دوئ څلور شپې تېرې کړي دي، ځکه که داسې ونه شي، نو موږ ځنګه تاته د څلور ورځو پیسې درکولای شو، بله دا چې موږ دا پیسې له دولت څخه اخلو نو دولت هغه وخت موږ ته پیسې راکوي چې موږ اسناد ولرو!

سړي د جمیل خبره ومنله، جمیل ما ته وویل:

زه د یوه کار لپاره دباندې ځم، ته تر هغو دلته کېنه چېرته ولاړ نه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځې مو هلته تېرې کړې، بيا تر هغه وروسته کابل ته راغلو په کابل کې هم جميل اووه ورځې دندې ته نه وو تللی او زه مکتب ته خو تر ټولو مهمه خبره دا وه چې! کله زه نوی کورته راغلم، چې کله مې مور وليدم ډېره خوشحاله شوه، خو چې پلار مې وليدم ډېره په غوصه يې له ما څخه وپوښتل:

چېرته تللی وې دا شپږ شپې دې چېرته تېرې کړې؟

ما وويل:

پ پپ پلار ج جج جانه! زه جلال آباد ته تللی وم.

پلار مې بيا وپوښتل:

هلته دې څه کول؟

ما ورته وويل:

هسې زما له ملګري جميل سره، چکر ته تللی وم.

پلار مې وويل:

دا جميل بيا څوک ده؟

ما ورته وويل:

هېڅ هغه په استخباراتو کې ده.

پلار مې نورې پوښتنې ونه کړې، که يې کړې هم وای ځواب مې نه ورکاوه، ځکه جميل راته ويلي ول، نه به د استخباراتو په اړه چاته څه وايې او نه هم په دې اړه چې پېښور ته تللی وې او تر دوؤ ورځو پورې له کوره هم دباندې ولاړ نه شې، بله دا چې کله هم چاته ونه وايې چې ته ډېر ژر په استخباراتو کې داخلېږې.

خو زه يوې خبرې ته هيران شوم، پلار مې لومړی په څومره غوصه پوښتنه وکړه، نو بيا دا غوصه يې څنګه سړه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې ټوله شپه خوب نه راته، په سر کې مې ډېر سوچونه ګرځېدل راګرځېدل، کله به مې سوچ کاوه آیا زه به وکولای شم چې پوهنتون ووایم؟ که مې پلار خبر شو، چې زه په اشرارو (مجاهدینو) کې یم، هغه به څه راته وایي او څه به راسره کوي؟

همداسې ډېر نور سوچونه او پوښتنې مې په سر کې ګرځېدې بلآخره د شپې په دوؤ بجو ایله ویده شوم، سهار ته تر نهو بجو پورې ویده وم نهه بجې راپاڅېدم، د سهار د لمانځه قضایي مې هم راوګرځوله، بیا لاړم چې چای وڅښم مور مې راته وویل:

زویه! څوک داسې کار کوي؟ څوک بې له پوښتنې څخه چېرې ځي؟

داسې مه کوه ځکه له کومې ورځې چې ته ورک شوې، زموږ ښځ دې ویستلی وؤ، موږ دا فکر کاوه چې خدای ناخواسته ته د اشرارو له خوا تښتول شوی نه اوسې، داسې نشي چې ته به یې مړ کړی یې او همداسې نورې خبرې مو په سر کې ګرځېدلې، ښه شو چې راغلې کنه اوس خو به زموږ زهره چودلې وه.

رینښتیا پلار دې ویل:

چې له دې هلک څخه ولې لټ خر جوړ شوی ده، پخوا به په نیمه شپه کې پاڅېده او د سهار لمونځ به یې کاوه، خو نن تر اووه نیمو بجو پورې ویده ده؟

ښه شو چې اوس نه شته کنه اوس به یې ویل:

دا خو بیخي لټ ده، دا ده تر نهو بجو پورې ویده وؤ او خان صیب اوس راپاڅېده.

ما ورته وویل:

خوب نه راته! بیا ناوخته ویده شوم او ناوخته پاڅېدم، بس همدومره.

مور مې وویل:

ښه نو سوچونه دې وهل؟ مین شوی خو به نه یې؟ داسې نه وي چې په کومې قوالي (شېخ محمدی) مین شوی اوسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل:

نه مورې! ته څه وايې مېن شوی به یم هغه هم په يوې قوالې باندې، داسې نه شي کېدای.

مور مې وويل:

داسې نه شي چې بيا له کومې نجلۍ سره يارانه جوړه کړې، بله دا چې پلار دې ويل د غرمې لپاره مېوه را وغواړه، چې چای دې وڅښنه بيا لاړ شه هه! دا پيسې واخله.

×××××

پيسې مې واخيستې، چې چای مې وڅښنه، د بازار په لور روان شوم، په سوچونو او فکرونو کې تر منډيي پورې ورسېدم، په منډيي کې مې هم سوچونه وهل، د سوچونو له نړۍ څخه هغه وخت بهر شوم چې کله مې له يوې نجلۍ سره ټکر وکړ، چې کله له سوچونو رابهر شوم، ګورم چې نجلۍ هلته پرته وه لاس مې ورکړ او پورته مې کړه، په فارسي ژبه يې وويل:

تاسو کليوال! د لارې د تګ راتګ په ادب هم نه پوهېږئ! احمقانو!

ما يې په ځواب کې وويل:

ګوره! اصل کې خبره دا ده، چې زما تاته پام نه وؤ، کنه ما کله هم نه غوښتل چې له تاسره ټکر وکړم.

دې وويل:

ولې زه څه پچه وم، چې پام دې راته نه وؤ؟ او که ړوند وې؟ هر څه چې وؤ خو ته ډېر احمق او رزيل انسان يې اوس ورک شه، زما له لارې لرې شه، کنه پوليسو ته ستا شکايت کوم.

زه لاړم، روميان مې واخيستل، بېرته د کور په لور روان شوم، چې کله کورته ورسېدم، مور مې راته وويل:

لکه چې مېن شوی يې؟

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري ځوروه مې مه! دا څه خبرې دي چې ته يې کوې؟

مور مې راته وويل:

ښه که داسې نده، نو روميان له کله نه مېوه شوه؟

چې لاس ته مې وکتل، ما ته هم خندا راغله، مور ته مې وويل:

اوس به څنګه کېږي؟

مور مې راته وويل:

ځه خير څه خبره نه ده، زه به دې پلار ته څه بهانه وکړم، خو نور پام کوه، کوچنی خو نه يې ورور دې کوژده کړې اوس ستا وار ده.

ما خپلې مورته وويل:

ورور مې کله کوزه کړې ده؟

مور مې وويل:

هو ريښتيا! تاته خو مې ونه ويل، نن يې څلورمه ورځ ده، چې شيريني مو ورته راوړې ده.

دغه ورځ هم تېره شوه، سبا سهار مکتب ته ولاړم، له مکتب نه چې راووتم، د جمعيت دفتر ته ولاړم، هغوئ ته مې بهانه وکړه، بيا بېرته کورته ولاړم کور کې مې د مکتب سامان کېښود او بيا دباندې ووتم حيران پاتې وم، چې اوس چېرته ولاړ شم، خو بلآخره د بالاحصار خواته وخوځېدم، د شودا (شهدا الصالحين) خواته ولاړم، هلته د ولاړو اوبو څنګ ته ناست وم، سوچونه مې وهل چې يو وخت ګورم، له ما څخه لس يا پنځلس متره هخوا يوه نجلۍ ناسته وه، چې لږ ورته ځير شوم، مخ يې راواړه ګورم هماغه نجلۍ وه، چې پرون مې ټکر وسره کړی وؤ، ښکلې غټې او شنې سترګې خرمايي ويښتان، وړه خوله، سپين مخ او ګلابي غومبوري، سخت خوند يې راکه سترګې په سترګو شوم ورسره خو بيا وشرمېدم، په همدې کې نجلۍ زما خواته راغله راته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې زما خواته ګورې؟ پرونۍ دښمني پالې که څه؟

ما ورته وویل:

دا چې ته څه غواړې زه نه پوهېږم، خو په دې پوهېږم چې ستا هدف دا نه ده، چې زه ستا پوښتنې ځواب کړم، اصلي مطلب دې ووایه.

نجلۍ وویل:

زما نوم صنم ده! ته مې خوښ شوې، پرون مې په لاسي له تاسره ټکر وکه، بدې ردې مې هم د دې لپاره درته وویلې، ځکه پخوانیو مشرانو ویلي دي، چې که کومه نجلۍ کوم هلک ته بد رد وایي، نو هغه هلک په هغې نجلۍ مئینېږي، په هغو بدو ردو ځکه پښېمانه یم، ځکه چې پرون ما فکر کاوه چې ستا ماته فکر ده، خو چې نن ګورم ته سمه د سوچونو بوجۍ یې.

ما ورته وویل:

نن خو دومره په سوچونو کې نه یم، ځینې وخت مې که وګورې نو فکر به وکړې، چې لېونی یم.

هغې په خندا کې وویل:

اوس هم لېونی یې، خو ودې نه ویل نوم دې څه ده؟

ما ورته وویل:

زما نوم بهرام ده، ستا نوم څه ده؟

زما نوم صنم ده، زه د ننګرهار یم، په قام شیخ مامدی (شېخ محمدی) یم، پلار مې د حزب اسلامي لوی قومندان ده، زه کله کله دلته راځم، خو ته مې په لومړي ځل دلته ولیدې.

ما ورته وویل:

رینښتیا! زه هم کله کله دلته راځم، خو ډېر نه راځم، ځکه دا اوبه ولاړې دي، زما ولاړ شیان نه خوښېږي، زه ډېر کله د کابل سیند تر څنګ ودرېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنم وویل:

ریښتیا! د مجاهدینو قومندانه! ودې نه ویل، ولې دې فارسي دومره ضعیفه ده؟

ما ورته وویل:

ضعیفه ده؟ یعنې څه تر اوس مې داسې کومه خبره نه وه اورېدلې، بله دا چې د وطن دښمنانو ته مجاهد مه وایه اشرار وایه.

صنم وویل:

که ستا پښتو ته وګورې نو فارسي دې خورا ضعیف ده، بله دا چې ته ولې مجاهدینو ته اشرار وایې؟ څه بد یې درسره کړي، دي دوئ خو د وطن آزادول غواړي، دا ټولې خبرې پرېږده اوس دا راته ووایه: د مازدیګر لمونځ نکوې؟

زما زړه وؤ، چې ورته ووایم چې ریښتیا هم باید مجاهدینو ته اشرار ونه وایو، بل دا چې ورته ووایم، چې زه چې د جومات خواته ولاړ شو، زه به هلته لمونځ وکړم، بیا به کیسې سره کوؤ، خو بیا مې فکر شو چې کېدای شي په دې نجلۍ کې څه فساد وي کنه پرون څنګه هغومره ترخه وه او اوس دومره خوږه ده؟ نو ما ورته وویل:

ګرانې! لمونځ د اشرارو او د بېکاره خلقیانو کار ده، زه خو پوخ خلقي یم.

صنم موسکۍ شوه او بیا یې په خوږ آواز وویل:

اوس مازدیګر ده، زه کورته ځم، ته هم کورته ولاړ شه، چې داسې نشي له ډېرو سوچونو په اوبو کې ولوېږې، سبا به سره ګورو.

له دې خبرې سره دومره خندا ورغله، چې بېخي یې ځان نشو کنټرولولای، ما هم خدای په اماني ورسره وکړه، او کورته ولاړم.

×××××

مور ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې! تا ویل چې لالا ته دې ښځه کړې، خو ودې نه ویل چې څوک دې ورته کړې؟

مور مې راته وویل:

پانه، هغه زموږ ه ګاونډی د حاجي ستار لور! څنګه ده؟ ښایسته خو به وي؟ تا خو لیدلې؟

ما ورته وویل:

په ښایست کې خو یې سپوږمۍ شرمولې، خو زما خوښه نشوه، چنداني اخلاق نلري، دا چې اوس لغمانۍ ده دومره بد اخلاق لري، که شمالیواله وه، دنیا به یې چپه کړې وه.

مور مې راته وویل:

یعنې څه چې که شمالیواله وای؟

ما ورته وویل:

لغمانیان ډېر ښه اخلاق لري، خو دا دومره بد اخلاقه نجلۍ ده. خو له شمالیوالو سره دوهمه خبره نه شي کېدای لکه څنګه چې مرچک خوري هماغسې تریخ او تروش دي، په نه خبره به یې درسره جنګ وي.

×××××

د شپې ډوډۍ مو وخوړه، د شپې وختي ویده شوم، سهار مې خپل لمونځ وکړ، چای مې وخته وڅښه، بیا مکتب ته ولاړم.

په مکتب کې مو هم د امتحان اعلان وشو، ویل یې سبا ته مهال وېش (تقسیم اوقات) ورکوؤ، له مکتب څخه چې رخصت شوم، بېرته کورته وګرځېدم، په کور کې مې کالي بدل کړل، چې کله مې زړه وؤ، چې دباندې راووځم مور مې راته وویل:

چېرته ځې زویه؟

ما ورته وویل:

هسې! لږ دباندې ځم، ولې څه خو دې نه ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ولاړ شه څه خبره نده، خو لږ په ځان پام کوه، له هرچا سره مه ګرځه.

بیا شودا «شهدای صالحین سیمې» ته ولاړم، هلته د اوبو تر څنګ ناست وم، چې ژر را په یاد شول، یاره تا خو لمونځ ونه کړ، لاړم لرې هلته یو کوچنی جومات وؤ، په جومات کې مې په یوازې لمونځ وکړ، او بېرته پروني ځي ته ولاړم، یو یونیم ساعت هلته ناست وم چې یو وخت چا زما په اوږه لاس کېښود، ویې ویل:

بهرامه! ډېر کبرجن یې، اوس ماته ګورې هم نه.

غږ یې د صنم وؤ، خو صنم کله پښتو نوه ویلې ژر مې شاته وروکتل، ګورم پخپله صنم وه، ترې ومې پوښتل:

ستا خو پښتو زده نه وه؟

صنم وویل:

زده مې ده، خو زما پلار شیخ مامدی او مور مې شمالیواله ده، یوه ورځ د خپل پلار لپاره پښتو وایم او یوه اونۍ د خپلې مور لپاره فارسي، تیره اونۍ مې د مور لپاره فارسي ویله او نن د خپل پلار لپاره پښتو وایم.

ما ورته وویل:

شیخ مامدیان له کله پښتانه شول؟ ریښتیا زما لپاره څومره وخت پښتو ویلی شې؟

صنم وویل:

رزیله! ته فکر کوې چې شیخ مامدیان پښتانه نه دي؟ او پاتې شوه دا چې ستا لپاره څومره پښتو ویلی شم؟ دومره ویلی شم څومره چې له تاسره یم.

د صنم له دې خبرې سره زما شوخۍ طبع هم را بیداره شوه، ځکه خو ما ورته وویل:

سمه ده! همدومره مینه هم بس ده.

×××××

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما او د صنم په ليدو ليدو، ډېر وخت تېر شو، د ښوونځي امتحانونه هم تېر شول، نور نو زما بې له صنمه ژوند نيمګړی وؤ، چې د چا به شنه يا سره کالي کړي ول ماته به صنم ښکارېده، ځکه صنم به تل شنه او سره کالي کول، چې چا به راته مسکا کوله ماته به صنم ښکارېده او چې چا به له شانه راباندې غږ وکړ يا به يې زما پر اوږه لاس کېښود، هغه به هم راته صنم ښکارېده، هرڅه راته صنم ول په هرڅه کې به مې ليده، چې کله به مې اوبو ته کتل زما څېره به يې نه راته ښوده د صنم څېره به يې راته ښوده، که به مې د مخ شيشې (ښيښې) ته کتل زما د تصوير پر ځای يې د صنم تصوير راته ښوده، يوه ورځ مې صنم وليده راته يې وويل:

څومره مينه راسره لرې؟

ما ورته وويل:

دومره مينه درسره لرم، څومره چې په تاريخ کې نه تکرار شوې وي او نه به تکرار شي، ته له ماسره څومره مينه لرې؟

صنم وويل:

له ماسره ډېره مينه لرې! خو زما هم کمه نده، زه دومره مينه درسره لرم، لکه دا نړۍ د دې دنيا په اندازه مينه درسره لرم.

بيا صنم زما لاس راڅخه ونيوه په خپل سر يې کېښود او ويې ويل:

ستا دې زما په سر قسم چې دروغ به نه وايې، اوس ووايه رينښتيا ستا نوم ليکنه په استخباراتو کې شوې ده او که نه؟

حيران شوم د صنم په دې قسمونو نور آموخته شوی وم، څو ځلې يې داسې قسمونه راکړي ول، لکه يو ځل يې راته قسم راکړ، چې ووايه ته په مجاهدينو کې يې او که نه؟

پخوا به مې له قسم سره دروغ ورته ويل، خو اوس راباندې ډېره ګرانه شوې وه، ما د يو څو شېبو لپاره بې له دې ژوند نه شو کولای د تل لپاره خو لاڅه کوې. نو ورته ومې ويل:

هو! صنم جانې! همداسې ده، زه غواړم خپل هيواد ته خدمت وکړم، او دا خائن اشرار وځپم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


صنم وویل:

دا د خدمت ډیالوګ نور زوړ شوی، د دې پرځای کوم بل ډیالوګ وکاروه، نور فلمي ډیالوګونه هم شته.

ما ورته وویل:

دا زما د فلم ډیالوګ ده، د کوم بل فلم څخه مې نده کاپي کړی.

په دې خبره باندې موږ دواړو ته خندا راغله، تر ډېره مو وخندل، بیا په پای کې مو خدای په امانې سره وکړه، هغه خپل کورته ولاړه او زه خپل کورته.

×××××

سبا سهار زه په کور کې وم، ځکه مکتب هم نور خلاص شوی وؤ او زما زړه هم نه غوښتل چېرته ولاړ شم، نهه بجې وې، چې زموږ دروازه وټکېده، زړه مې وؤ چې ورشم، خو پلار مې دروازه خلاصه کړه، جمیل وؤ، پلار مې په غېږه ستړې مشې ورسره وکړه، بیا یې مېمانخانې (مېلمستون) ته بوته، زه ولاړم، چای مې ورته ور وؤړ او له جمیل سره مې ستړې مشې وکړه، دې ته حیران وم چې پلار مې له کومه جمیل سره پېژني؟

ما له خپل پلار څخه وپوښتل:

پلاره! ته جمیل له کومه پېژنې؟

پلار ته مې خندا ورغله تر ډېره یې وخندل بیا یې وویل:

هسې! ته نه پوهېږې؟ ښه اصل کې خبره دا ده، چې جمیل د شفیق الرحمن ورور ده، کوم چې له ډېر کوچنیوالي څخه دلته په ښار کې اوسېږي، په دې دوؤ کلونو کې دی استخباراتو ته دننه شوی ده.

جمیل وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار دې زه له مخکې پېژاندم، ما هم ته پېژاندې، خو تا ته مې نه وؤ ویلي، رېښتیا زه د دې لپاره راغلی یم، چې ستا کار شوی، پنځلس ورځې وروسته د شنبې په ورځ ریس (مشر) غوښتی یې.

ما ورته وویل:

خو په هغې ورځ باندې خو زموږ پوهنتون شروع کېږي؟

جمیل وویل:

هېڅ خبره نده! لومړی هلته ولاړ شه، بیا به پوهنتون ته ولاړ شې.

په هغې ورځ سهار د پوهنتون په خوا وخوځېدم، بیا راپه یاد شول، چې جمیل راته ویلي ول، چې اته بجې په شش درکو کې ستا په تمه یم، ژر په جاده کې ښکته شوم، له پل مامودخان (پل محمود خان) څخه چې تېرېدم،جمیل راباندې غږ وک:

بهرامه! راځه!

زه هم ورغلم ستړې مشې مې ورسره وکړه، بیا دواړه یو ځي ته ولاړو، هلته له یوه سړي سره وغږېدو، هغه راته وویل:

موږ ستا ځارنه خلاصه کړې ده، ستا په اړه مو وروستۍ څېړنې هم کړي دي، اعتباري یې خو لږ وخت ته اړتیا ده، ځکه خو مې په سرک باندې درسره وکتل، خو پام کوه چې له موضوع نه څوک خبر نه شي، چې ته څه کار کوې؟، دنده دې چېرې ده؟ او داسې نور.

ما ورته وویل:

خو زه خپله خبر نه یم چې څه کار کوم؟ دنده مې چېرې ده؟

ریس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ریښتیا! ښښنه غواړم ستا دنده په پوهنتون کې ده، هلته چې هرڅه تېرېږي او هرڅه کېږي، هغه به موږ ته رسوې، د هرې پنجشنبې په ورځ زه دلته درته په تمه یم، ته راځه او ماته ټول معلومات راکوه.

ما هم ورته وویل:

سمه ده! همداسې به کوم، ما ته وسله نه راکوې؟

ریس وویل:

نه ګرانه! ستا سره وسله ښه نده، تا کله لیدلي چې له کوم محصل سره دې وسله وي؟ اوس نو لاړ شه خپل پوهنتون ته، موږ ستا پوهنځی له انجینرۍ څخه جراحي ته بدلوؤ، ځکه ستا همدا پوهنځی خوښېده او موږ غواړو چې زموږ کسان خپله دنده په خوښۍ سره تر سره کړي.

له ریس او جمیل سره مې خدای پاني (خدای په اماني) وکړه، بیا د پوهنتون خواته روان شوم چې کله پوهنتون ته ورسېدم، لومړی مې خپل صنف پیدا کړ، بیا په پوهنتون کې ګرځېدم را ګرځېدم چې صنم پیدا کړم، خو پیدا نه شوه، بېرته خپل صنف (ټولګي) ته ولاړم، په صنف کې استاد (ښوؤنکی) نه وؤ، ټولې څوکۍ ګانې هم ډکې وې، خو په یوه څوکۍ یوه نجلۍ ناسته وه، ډېره ښکلې وه، سپوږمۍ خو بېخي ورته توره تبۍ ښکارېده، زه ورغلم تر څنګ یې کېناستم، نجلۍ راته وویل:

پورته شه احمقه! لاړ شه بل چېرې کېنه!

ما ورته وویل:

بل چېرې ځای نشته، زه یوازې همدلته کېناستی شم.

نجلۍ ماته څه ونه ویل، نورو نجونو ته یې وویل:

نجونو راځئ موږ به د یو بل ترڅنګ کېنو او هلکان به هم د یو بل ترڅنګ، داسې به هغوئ هم بېغمه شي او موږ هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نجونو ته چې د هلکانو تر ځنګ کېناستو خوند ورکړی وؤ، د دې په خبره يې غوږ هم ونه ګراوه.

نو يې ما ته وويل:

پورته شه له دې څوکۍ نه، کنه دا خپل بوټ ستا سر ته نيسم.

ماته هم چاره نه وه پاتې، له ځان سره مې وويل:

اوس به زه دې نجلۍ سره ګورم، لاړم د استاد په څوکۍ کېناستم، چې کله استاد راغی ټول ولاړ شول، استاد وويل:

کېنئ! زه بېرته د استاد په څوکۍ کېناستم، استاد په غوصه وويل:

ستا اوله ورځ ده، د استاد په څوکۍ ناست يې، که يو کال دې تېر شي، بيا د پوهنتون د ريس په څوکۍ کېنې.

ما ورته وويل:

خو استاده! بل ځای نشته.

استاد وويل:

ولې ړوند يې هغه ځای نه شې ليدای؟

ما ورته وويل:

هلته مې هغه نجلۍ نه پرېږدي.

استاد وويل:

څه د پلار څوکۍ خو يې نده، چې نه دې پرېږدي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم لاړم او له نجلۍ سره کېناستم، نجلۍ برګ برګ راته وکتل خو ما يې هېڅ پروا ونه کړه، درس شروع شو، چې کله د نن ورځې درسونه خلاص شول، سبا سهار چې بيا راغلم بيا نجلۍ ځای نه راکاوه، بيا مې هماغسې وکړل، خو په دې ورځ بل استاد راغی ويې ويل:

ځوانه! ته ولې زما په ځای ناست يې؟

ما ورته وويل:

هغه د خان لور وينې؟ هغه مې په خپله څوکۍ نه پرېږدي.

زما په دې خبرې ټولو محصلانو په ډېر زور سره وخندل، بيا ټولو په يوه خوله وويل:

موږ يې هم نه يو پرېښې.

استاد موږ ته وويل:

چپ شۍ بې ادبو!

استاد هغې نجلۍ ته وويل:

ته ولې دا هلک په خپل څنګ کې نه پرېږدې؟

نجلۍ وويل:

اصل کې خبره داسې ده، چې دی هلک او زه نجلۍ يم او دا ډېره بده خبره ده، چې يو هلک او يوه نجلۍ څنګ په څنګ کېني، ما نورو نجونو ته پرون وويل:

موږ نجونې به سره يوځای کېنو او هلکان دې په خپلو کې يوځای کېني، خو نجونو ته د هلکانو تودو غېږو خوند ورکړی وؤ او زما په خبره يې غوږ هم ونه ګراوه.

استاد مسکی شو اوبيايې نجونو ته وويل:

څه فکر کوئ نجونو؟ آيا د هلکانو ګرمې غېږې پرېښودای شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجونو نور له شرمه څه ونه ویل، پورته شوې، نور نو هلکانو ځای ښې خواته شو او د نجونو چپې(کیڼې) خواته.

×××××

په دې ورځ چې له ټولګي څخه راووتم، بیا مې هم صنم ونه لیده، کورته ولاړم، د پوهنتون سامان مې کېښود د شودا خواته ولاړم، هلته صنم ناسته وه ژړل یې، زه نږدې ورغلم، د هغې په اوږه مې لاس کېښود ، بیا مې په غېږ کې راټینګه کړه، ورته ومې وویل:

ولې ژاړې؟

صنم وویل:

پوهېږې مور مې له ماسره څومره ظلم کړی؟ ماته یې ویل ول چې خاوند دې مړی شوی، اوس دوه نیم کاله وروسته، یې بیا راته وویل:

چې ستا خاوند پرون د شورویانو له خوا شهید شوی ده.

ما ورته وویل:

ګوره کېدای شي چې مور به دې خبره نه وه یا دا چې نه به یې غوښتل چې داسې کوم څه درته ووایي چې هسې چټې دې وځوروي، مطلب کې کېدای شي چې خاوند به دې په داسې یو ځای کې وؤ چې ستا به څه مرسته نه ورسره کېده، مثلاً چې د اشرارو په لاس کې به وؤ.

تر ډېره سره ناست وؤ، خو چې ما دې ته کتل په ریښتیا خفه نه ښکارېده،نه هم داسې ښکارېده چې ګوندې د دې خاوند به مړ شوی وي، نو ځکه خو مې ما ورته وویل: راځه! زموږ کورته ولاړه شه، بیا به سبا خپل کورته ولاړه شې.

خو صنم وویل:

نه! نه! زه خپل کورته ځم، کنه نور مور به مې راته وایي، چې چېرې تللې وې؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده، چې څنګه دې خوښه وي.

بیا مې دا تر کوره ورسوله، تر هغه وروسته خپل کورته ولاړم، په کور کې مې د صنم په اړه فکر کاوه، کله به مې کوژده ورسره وکړه، کله به مې واده ورسره وکړ، کله به مې دولس بچیان پیدا شول او کله شل، کله به صنم مړه شوه. څو ځلې له سوچونو بهر شوم، بیا به سوچونو ته ولاړم په همدې سوچونو کې وم چې دروازه وټکېده، چې ورغلم ګورم چې جمیل ده، جمیل وویل:

ډېره بېړه لرم کورته ځم، خو ریس ویل:

سبا ته هماغه ځای ته راشه، پوره اته بجې. سمه ده؟

ما ورته وویل:

سمه ده.

سبا سهار اته بجې مې ځان ریس ته ورساوه، ریس راته وویل:

ته خو هسې هم له پوهنتون څخه وروسته کار نه لرې، نو زه غواړم تا د جمعیت په ګوند کې شامل کړم، ته چاراسیا (چهار آسیاب) ته ولاړ شه، هلته د چاراسیا په بازار کې د انځر په نامه دوکاندار ده، هغه ته ووایه، چې حضرت ګل ویل، چې ما په جمعیت کې شامل کړه، بس نور دې کار جوړ ده.

له رئیسه مې وپوښتل:

خو ته ولې غواړې چې ما په دې بېکاره ګوند کې شامل چې ټول اشرار دي؟

راته یې وویل:

ځکه چې مونږ ته مخبري وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خدای پاماني څخه وروسته د پوهنتون په خوا وخوځېدم، له پوهنتون نه چې راووتم، بس د مشر په خبرو مې عمل وکړ، د جمعیت ګوند کې یو ځل بیا شامل شوم چې کله انځر د جمعیت له دفتر څخه لاړه، نو ما د چهاراسیا دفتر مشر ته وویل:

لکه چې زه دې ونه پېژاندم؟

هغه راته وویل:

راته آشنا ښکارې خو سم مې ونه پېژاندې، څوک یې؟

ما ورته وویل:

زه د صادق شریک یم، ته هم ګلمرجان یې، غواړم چې صادق وګورم.

ګلمرجان وویل:

صادق اوس هغه صادق نه ده، چې ستا شریک وؤ، اوس یې نوم ډېر پورته ده، د جمعیت اتل ده، ته نه شې کولای له هغه سره وګورې.

ما ورته وویل:

ته یو ځلې زما نوم ورته واخله، استخبار ورته ووایه بیا مې خپله پېژني، بیا به وګورو چې څنګه چل ده، له ماسره ګوري او که نه.

ګلمرجان وویل:

سمه ده، سبا ته راشه، صادق هم راځي، رینبتیا ودې نه ویل، چې زه دې څه وپېژاندم؟

ما ورته وویل:

هسې! ما د خاصو غړو په ناسته کې لیدلی وې.

×××××

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا زما څخه هېر شو، چې بايد د چاراسيا دفتر ته ولاړ شم، نو له پوهنتون څخه راساً د شودا خواته ولاړم.

هلته صنم ناسته وه، زه هم ورغلم سلام مې ورته واچاوه، بيا مې له لږ خبرو وروسته ورته وويل: زه نن غواړم، چې تا خپلې مورته ښکاره کړم، که دې خوښه وي وي، نو راځه راسره لاړه شه.

صنم مسکۍ شوه او بيا يې وويل: سمه ده! لاړبه شو، خو تر واده وروسته.

سر له سبا څخه پوهنتون د يوې اونۍ لپاره رخصت ده، زه او ته به نکاح وکړو، بيا بـه د چکـر لپاره خوست ته ولاړ شو.

زړه مې نه وؤ، خو د صنم له ډېر ټينګار وروسته مې ورسره ومنله، سبا سهار وختـي لـه کـوره ووتم، صنم سره مې په تېمورشاهي کې وعده ايښې وه، بيا له هغه ځای څخه محکمې تـه ولاړو، هلته مو نکاح وتړله، له هغه ځای څخه مو خوست ته حرکت وکړ، چې کلـه خوسـت تـه ورسـېدو، نو هلته مو له ښار څخه لرې يوه کوټه ونيوله، دواړه هلته ولاړو، خو بيا مې په زړه وګرځېدل چې مور مې راته ويلي ول، چې چېرې تلې نو مور ته خبر راکړه.

نو ځکه ما هم صنم ته وويل: زه بايد خپلې مور ته خبر ورکړم، چې زه خوسـت تـه راغلـئ يـم، کنه بيا په تشويش کېږي.

صنم وويل: څه چاره وکړه، اوس خو نشـو کـولای چـې بېرتـه ولاړشـو، لاړ شـه وګرځـه چېرتـه بـه ټيلفون وي، کورته زنګ ووهه.

ما ورته وويل: خو زمونږ په کور کې ټيلفون نشته.

هغې وويل: سمه ده! هسې هم زما خوست خوښ نشو، نو بيا ځه چې بېرتـه کابـل تـه ولاړ شـو، سبا به بيا کندهار ته ولاړ شو، يوه اونۍ به هلته تېره کړو، بيا به بېرته کابل ته راشو.

د دې په دې خبره حيران هم شوم، بيا مې له ځان سره وويل: کېدای شي، چې دا به غواړي چې زه او مورمې په تشويش نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسپښین مو بېرته کابل ته حرکت وکړ، چې کله لوګر ته را رسېدو ماخستن وؤ، حزب اسلامي، جمعیت اسلامي، اتحاد اسلامي او حرکت اسلامي له شورویان سره کرکټ کړئ وؤ (دوی له شورویانو سره جګړه کړې وه)، په دې کرکټ کې شورویانو درې سوه وېکټې له لاسه ورکړې وې او مجاهدینو دوه نیم سوه، البته دغه شمېره د دوی له خولې څخه وه، په اصل کې خبره معلومه نه وه، چې چا څومره وېکټې له لاسه ورکړې وې او څومره نومرې یې کړې وې.

مور چې کابل ته را رسېدو نو د شپې لس بجې وې، صنم مې د صنم دوی کورته ورسوله او زه خپل کور ته ولاړم، کور کې مې پلار راته وویل:

چېرې وې؟

ما ورته وویل:

هسې وظیفې ته تللی وم.

پلار مې راته وویل:

ښه خبره ده، بې لارې ونه کړې کنه بیا به دې سم جوړ کړم.

ما ورته وویل:

سمه ده، پلار جانه، چې ته څه وایې هغه به کېږي.

تر یو څه ځنډه و وروسته بیا ماورته وویل:

سبا ته باید کندهار ته ولاړ شم، یوه اونۍ هلته تېروم، یا کېدای شي چې تر هغې هم ډېر وخت تېر کړم، بیا بېرته کورته راځم.

مور او پلار مې دواړو په دې خبره ډېر ټینګار کولو چې:

ډېر هخوا او دېخوا مه ګرځه، له هر چا سره خبرې مکوه او داسې نور.

خو ما په زړه کې ویل:

یاره زه د څه لپاره کندهار ته ځم او تاسې څه فکر کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې مور او پلار ته وویل:

نو د همدې لپاره زه اوس له تاسو څخه خدای په امانې اخلم کېدای شي، چې سبا سهار وختي حرکت وکړم، که مو څه پکار وي راته ویلای شئ.

مور مې وویل:

سمه ده، زموږ څه پکار نه دي، راځه ډوډۍ وخوره! لمونځ دې وکړه، بیا څمله هسې هم سبا سهار وختي کندهار ته ځې.

چې ډوډۍ مې وخوړه، بېغمه څملاستم، یو وخت چې پورته شوم، اووه نیمې بجې وې، ځان ته مې هم غوصه راغله، ځکه ما له صنم سره په پنځه نیمو بجو باندې د سینمای پامیر مخې ته وعده کړې وه، ډېر په بېړه مې خپل له کالیو ډک بیک واخیست او د سینمای پامیر مخې ته مې ځان ورساوه، هلته مې هخوا دېخو ډېر وکتل صنم نه وه، ما وېل کېدای شي تللې به وي، چې څنګه مې غوښتل بېرته کورته راشم، صنم غږ راباندنې وکړ:

بهرامه! چېرې ځې؟

چې مخ مې وروا ړه او صنم مې ولیده، نو ډېر خوشحاله شوم، ځکه ما ویل اوس به په غوصه وي، خو دا هم خوشحاله وه، ورته ومې ویل:

تر اوسه درته په تمه وم، چېرې وې چې دومره ناوخته راغلې؟

صنم وویل:

دا خو ښکاري چې ډېر راته په تمه وې، مخ دې هم نه ده مینځلی او دلته راغلی یې. هههههههههههه

ما هم وخندل، فکر مې کاوه چې صنم راته پېغور راکوي چې ته څومره ناوخته راغلی یې، نو ځکه مې وویل:

نه ریښتیا! چېرې وې، چې دومره ناوخته راغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنم بیا په داسې حال کې زما خوب راکړ، چې لـه خندا ډکه وه، هههههههه مخ مې مینځه (وینځه)، سهار لـږ څه ناوخته پورته شوم، یـو څه وخت مې هم د مخ پـه مینځلو تېر کـه (کړ) هههههه.

دا خو ښکاره وه چې صنم له ماسره ټوکې کولې، نور په دې هم پوی شوی وم، چې صنم پـه دې نه پوهېږي چې زه هم نوی راغلی یم، نو ورته مې وویل:

ځه! چې نور له خیره سره ځو.

له دې ځایه څخه تر د کندهار اډې پورې مې ټکسي ونیـوه، دواړه ټکسـي تـه وروختـو، چـې د کندهار اډې ته ورسېدو، نو ښکته شولو، ټکسي ته مې چې پیسې ورکولې راته یې وویل:

یاره زه خو له ملګرو پیسې نه اخلم!

ما ورته وکتل بیا مې وویل:

زه او ته له کومه ملګري شولو؟

ټکسي والا راته وویل:

هېڅ ما وېل کېدای شي، چېرتـه بـه مـې لیـدلی یـې. چـې تـه وایـې ملګري نـه یـو نـو سـمه ده! ملګري نه یو.

صنم هخوا ولاړه وه، ما چې غړ پرې وکړ، ټکان یې وخوړ، ما ویل کیدای شي چې پـه ولاړه بـه ویده شوې وه، نو مې ورته وویل:

سهار په خیر راځه چې د کندهار ټکټ واخلو بیا به ځو.

لاړو د کنـدهار ټکـټ مـو اخیسـته ټکټونـه خـلاص شـوي وؤ، بېرتـه راغلـو د کنـدهار مـوټر تـه وروختو، هلته د دوؤ کسو ځای تش وؤ، کلنډر ته مې وویل:

موړ ټکټونه نه دي اخیستي دلته کېناستی شو؟

هغه په غوصه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سیټونه ټول په ټکټ دي، تاسې بې له ټکټ څخه نشئ کولای چې دلته کېنئ، ښکته شئ!

تر څو ما څه ویل، خلکو په کلندر باندې راچغه کړه:

نور په موږ باندې ناوخته شوه، دوئ په دغه سیټ باندې کېنوه ژر کوه چې نور لاړ شو.

کلندر هم لکه چې نور له انتظار څخه ستړی شوی وي، وویل:

سمه ده، زه څمه! ټکټ ولاته وایم، چې ستاسو لپاره هم ټکټونه راکړي، نور بیا څو هغه کسان چې ټکټ یې اخیسی ده، هغوئ دې په بل موټر کې راشي.

پنځه دقې (دقیقې) وروسته کلندر راغی او ډرېور ته یې وویل:

ځه له خیره سره سوارلۍ پوره ده.

حرکت مو وکړ، چې کله د غزني بازار ته رسېدو نو دولس نیمې بجې شا او خوا وې، ډرېور موټر ودراوه او موږ ته یې وویل:

هغه هوټل ده، که څوک ډوډئ خوري نو ورمخته دې شي.

زه او صنم دواړه هم هوټل ته ورغلو ما ورته وویل:

کباب راوړه.

صنم وویل:

ماته شوروا راوړه.

د هوټلي شاګرد په ټوکه وویل:

څه رقم کباب، هو ریښتیا که کباب او خوروا نه وه، بیا څه راوړم.

چې ومې لیدل د هوټلي شاګرد ټوکې کوي، نو ما هم ورته په ټوکو وویل:

د موزو کباب راوړه! که کباب او شوروا نه وه، بیا کروت (قروت) او جواری راوړه، که هغه هم نه وؤ، شنه پیاز او پاستي راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوټلي شاګرد وخندل اوبیا لاړه، لس یا پنځلس دقې وروسته راغی ماته یې شوروا کېښوده او صنم ته کباب، ما هم څه ورته ونه ویل، ما شوروا وخوړه او صنم کباب، په آخر کې چې ډوډۍ لږ پاتې شوه، صنم وویل:

اوس خو موږ ښځه او مېړه یو نو باید په ګډه ډوډۍ وخورو!

ما په ټوکه ورته وویل:

اوس چې کباب خلاص شو، ښځه او مېړه شولو؟

صنم وویل:

نه! هغسې خبره نه ده، که ډېر کباب پسې ستي یې نو درته راویې غواړه.

ما ورته وخندل، ډوډۍ مو وخوړه، بیا ورغلم هوټلي ته مې پیسې ورکړې او تر هغه وروسته د موټر په خوا روان شوم، موټر ته چې پورته شوم، ډرېور هارنډونه (هارن) شروع کړ، تر څو نور خلک هم راشي، ټول خلک راټول شول، بیا مو حرکت وکړ د ځینو ستونزو له امله ایله د شپې لس بجې کندهار ته ورسېدو، چې کله ښکته کېدم، زما تر شا ناست سړي راته وویل:

کندهار کې څوک خپل خپلوان لرئ؟

ما ورته وویل:

نه! هسې چکر ته راغلي یو.

سړي راته وویل:

راځئ! نن شپه به له ماسره تېره کړئ، سبا مو، بیا خوشه چې هر چېرې ځئ، اوس شپه ده، په هوټلانو کې ځای نه سته.

زړه نا زړه مې ورسره هو کړه، د شپې د هغوئ کره ولاړو، هغه بېچاره یوه تشه کوټه لرله او یو دهلیز کورنۍ یې هم ډېره وه، په ما یې زړه نه کېده، چې موږ دواړه په دهلېز کې واچوي او داسې یې کولای نه شول، چې دوئ دهلېز کې څملي ځکه دوئ ډېر ول، ده وویل:

یاره زه او ته به داسې وکړو چې پاس په بام به څملو او ښځې به دننه څملي بیا سبا که له ماسره هم پاتې کېدئ نو څه چاره به وکړو، هسې هم زه د کلي خان یم او که داسې هم نه وي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به يوه بله کوټه درته تسه کم (کړم)، کوټې خو هسې هم ډېرې دی، خو سامانونه پکښې ايښې دي.

شپه مو تېره کړه، د سهار د لمانځه وخت به وؤ، چې سړي غږ راباندې وکړ، پورته سه چې لمانځه ته لاړشو، زه هم پاڅېدم د سهار لمانځه لپاره مې اودس وکړ او د سهار لمونځ مې په جمع وکړ، چې بېرته راغلو، سړي وويل:

راځه په باغ باندې يو چکر ووهو، لاړو په باغ باندې ګرځېدو، هخوا او دېخوا ډېر وګرځېدو، بلآخره، د يوه سيند په غاړه کېناستو، سړي راته وويل:

تو پوهېږې، چې زه تا پېژنم؟

ما ورته وويل:

ما پېژنې؟ يعنې څه چې ته ما پېژنې؟ زه څوک يم؟ څه کار کوم؟ ته له کومه ما پېژنې؟...

سړي راته وويل:

دومره سوالونه دې وکړل، زه تا پېژنم، ته يو ډېر ځوانمرده او ښه سړی يې، ته کېدای شي په دولت کې کار وکړې، تا له موټر څخه پېژم موټر کې سره آشنا سوي يو.

ايله مې زړه کرار شو، تر څو دقو مخکې پورې مې فکر کاوه، چې ياره! لکه چې رسوا شوی يې، خو سړي بل رقم پېژندم، سړي ته مې وويل:

ريښتيا ودې نه ويل، څه کار کوې؟ نوم دې څه ده؟

هغه راته په خندا وويل:

ياره لکه چې ته هم د پوښتنو مرض لرې، دومره ژر ژر پوښتنې کوې چې زه دې ستړی کړم، زه کوم مهم کار نکه وم، دا خپل پټې او باغونه کرم، مجاهدينو سره مرسته کوم خو په هېڅ تنظيم کې نه يم، نوم مې بهادر خان ده، را ځه نور لاړسو، چای به تيار وي.

لاړو چای مو وڅښه د چای له څښلو وروسته، ما صنم ته وويل:

ځه چې نور له خيره سره ځو.

خو د صنم زړه نه کېده، بهادر خان هم وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه کوئ چې ځئ؟ هسې هم چکر ته راغلي يئ نو همدلته په همدې کلي کې چکرونه ووهئ خپله ساعتيري کوئ، څوک څه درته نه سي ويلای، اوس به موږ لاړ سو، شځې به يوه کوټه تسه او پاکه کړي، که موږ دلته اوسو نو هغوئ ايله له تا څه (ځخه) مخ پټ کړي.

د شپې زه او صنم دواړه يوازې په يوه کوټه کې ولو، سبا سهار چې کله زه پاځېدم چې لاړشم او د باغ په منځ کې چې کومه ويااله ده، په هغې کې غسل وکړم، نو صنم هم راغلـه اودس مـې وکړ، بيا مې ځان په اوبو کې ډوب کړ، بېرته چې راووتلم، خپل د بدن پوستکی (څرمن) مې وموښله، بيا مې ځان په اوبو کې ډوب کړ، بېرته چې راووتم، نو خپل پوستکی مې وموښه، بيا مې ځان په اوبو کې ډوب کړ، چې کله له اوبو څخه راووتم، گورم، چې صنم مې مخې ته ناسته ده، راته يې وويل:

غسل دې وکړ، شپه ډېره خوندوره وه، ما ته خو يې سخت خوند راکړ، تاته څنگه؟

تر څو ما څه ويل، صنم زياته کړه:

پوهېږې زما پخوانی خاوند ولې مړ شو؟ ځکه چې له شورويان سره په جگړه اخته وؤ، هغه هم ډېر ساده سړی وؤ، هغه سره هم هرې شپې خوند کاوه، خو زه په يوه خبره پوهه نه شوم، دا تاسې ولې دومره ژر په هرچا باور کوئ؟

ته څه فکر کوې، زما له سترگو پټ وې، دا چې ته ما ته يو نوم راکړې، پـه تذکره کې بـل نوم ولرې او په حزب کې بل نوم دا له ما څخه پټېږي؟

ناظر جانه! ته پوهېږې زه ولې له تاسره راغلم؟

ځکه راغلم، چې کوم زور چې په يوه داسې هلک کې وي، چې په لومړي ځل واده کـوي، هغـه په نورو هلکانو کې نه وي، زما لپاره خو ډېر هلکان پيدا کېدل چې زه واده ورسره وکړم، ځکه زه د ښکلا ملکه يم، خو ته ډېر ساده او زورور وې، هسې زما دښمن هم وې.

زه ستا د مشر مشره وم، خو تا ما ته تل دروغ ويل، اوس زه هم هغه کار کوم، چې شـورويانو زما له خاوند سره کړی وؤ.

ما ورته وويل:

خو تا ويل دومره مينه درسره لرم لکه دنيا؟

صنم وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره کم عقل یې، هغه ستا سو مشهور خبره ده: دنیا بې وفا ده. دنیا فاني ده...

چې ترڅو مې څه ویل، صنم ګېټې کشکوښته (کش کړ)، زما سینې ته یې د تفنګچې میل جوړ کړ او پوره شاجور یې زما په سینه کې تش کړ، زما په سترګو هم تیاره شوه، ترڅو

دوام لري...

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**